ناآشنا سندرې

ډاکټر سیّد بهاءُالدین مجرُوح

د افغانستان د مجاهدو لیکوالو ټولنه

۷۸۶

PROPERTY OF ACKU 722

نا آشنا

سندري

ډاکټر سیّد بهاؤالدّین مجروح

سلسلهٔ نشرات انجمن نویسندگان مجاهد افغانستان

دمطالبوفهرست

لومړی فصل

الف : د پروفیسور مجروح لنډه پېژندنه

ب : یادونه

	مخ
۱ - نا آشنا سندرې	۱
۲ - د وطن مور	۲۵
۳ - د کنړ سیند	۳۸
٤ - دیوې افغانۍ مور پیغام	۷٦
۵ - توره بلا	۱۰٤
٦ - څلوریځې	۱۰۸

دوهم فصل

ویرنې (مرثیې)

« د پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدین "مجروح" د شهادت له امله د افغاني شاعرانو او لیکوالانو ویرنې .

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم : نا آشنا سندرې

لیکوال : پوهاند بهاؤالدین "مجروح"

ناشر: "افغان اطلاعاتي مرکز"

خطاط: مختار محمد "مختار"

تیراژ: (۲۰۰۰) ټوکه

چاپخانه

دچاپ کال: ۱۳۶۸ هـ ش، ۱۹۸۹ ع

لومړی فصل

د پوهاند مجروح لنډه پېژندنه

شهید داکتر سید بهاوُالدین مجروح دافغانستان د نومیالی شاعر، ادیب او سیاستمدار سناغلی سید شمس الدین مجروح ځوی دی چې د ۱۹۲۸ ع کال د فبروري په ۱۲مه نیټه د کنړ ولایت د اسمار ولسوالی د شینکورک دکلي په یوه روحاني کورنۍ کې زیږېدلی دی.

لومړني تعلیمات يې د شینکورک دکلي په جوماتونو کې سرته ورسول او د فارسی مشهور کتابونه لکه ګلستان، بوستان او سکندرنامه يې ولوستل.

له څه مودې وروسته کابل ته دخپل پلار سره لاړ او د یارلس کلنۍ په عمر داستقلال دلیسې په څلورم ټولګي کې شامل شو. په ۱۹۵۰ ع کال کې د دغې لیسې د ادب او فلسفې څانګې څخه په لمړۍ درجه فارغ او د هغه وخت د دولت له خوا دعالي تحصیلاتو د پاره فرانسې ته ولیږل شو. د ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۸ کال پورې د پاریس په سوربن او بیاد

« مونت پلیه » په پوهنتون کې خپل عالي تحصیلات د ژوند د تحقیق او فلسفې په څانګه کې د ماً فوق لیسانس په درجه سر ته ورسول . په همدې دوره کې يې وکړای شو چې د آلماني او انګریزي ژبو ادبیات په غربي آلمان او انګلستان کې سرته ورسوي .

په ۱۹۵۸ ع کال کې خپل هیواد ته راستون شو او په همغه کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد او بیا رئیس شو . په ۱۹۶۳ - ۱۹۶۴ کال کې د کاپیسا ولایت د والي په حیث وظیفه اجراء کړه - د همدې کال په وروستیو کې په غربي آلمان کې د کلتوري رئیس په صفت مقرر شو .

مجروح درسي کار ترڅنګه د خپلې دوکتورا د پاره کار پیل کړ او په ۱۹۶۸ ع کال کې يې د " مونت پلیه " د پوهنتون څخه د ادبیاتو او فلسفې په څانګه کې د کتورا [2] واخیسته .

په ۱۹۶۹ - ۱۹۷۲ کال پورې د دوهم ځل لپاره د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د استاد په حیث مقرر او په همدې دوره کې د پوهنځي انتخابي رئیس شو .

په ۱۹۷۲ - ۱۹۷۳ کال کې د افغانستان د تاریخ د ټولنې رئیس ؤ - ۱۹۷۳ - ۱۹۷۹ کال پورې د ادبیاتو په پوهنځي

---

(۱) اجتماع احساس د الفرد ادلر په روانشناسۍ کې (۲) د ځان تربیه او زمونږ روانشناسي

کې د فلسفې استاد په صفت وظیفه اجرا کوله.

د ۱۹۷۸ع کال د غوايي د کودتا نه وروسته چې روسانو په افغانستان یرغل وکړ، نو پوهاند مجروح هم د هجرت لاره ونیوله او د ۱۹۸۰ع کال د فبروري په ۱۲مه نیټه پاکستان ته مهاجرت وکړ. دلته يې د افغاني مجاهدينو د مسلحانه جهاد په څنګ کې فرهنګي جهاد لپاره "د افغان اطلاعاتي مرکز" په نامه د قلمي جهاد د فتر پرانست.

دې که څه هم ژورنالیست او خبرنګار نه و خو دا فیصله يې وکړه چې د افغانستان د ننه حالاتو څخه نړۍ وال په واقعي توګه خبر او د روسانو او د دوی د غلامانو تول فجایع او جنایات بربنډ او افشاء کړي.

په دغه برخه کې ډاکټر مجروح د افغانستان په نظامي سیاسي، اقتصادي او اجتماعي حالاتو تبصرې او تحلیلونه کول او په نړیوالو کنفرانسونو کې به يې د افغانستان د مسئلې په ارتباط خبرې کولې.

پوهاند مجروح خپل ټول ژوند د علم او پوهې په خدمت کې تیر کړ، او د ژوند په وروستیو کلو کې يې خپل علم او قلم د خپلو مجاهدو او مهاجرو ورونو په خدمت کې په کار واچوه په دغه لار کې دده د لاسه هغه وخت قلم وغورځید چې

د اسلام، وطن او خلکو د دښمنانو لخوا د ۱۹۸۸ ع کال د فبروري په (۱۱ مه) نیټه د جمعې په شپه د خپل دفتر مخه په پیښور کې په شهادت ورسید.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

یادونه

شهید داکتر بهاؤالدین مجروح یو لړ علمي، سیاسي او ادبي لیکنې لري لکه: "اژدهای خودي" په پنځه جلده کې د ځانځانۍ ښامار "اژدهای خودي" پښتو ترجمه د آزاد شعر په قالب کې، د ښمن و پېژنه، دشمن را بشناسید (دري) د جبر او اختیار دیالکتیک، صوفي او نوی دنیا، یو تعداد علمي مقالې او بر سیره پردې یو لړ شعرونه.

خو د استاد مجروح شعرونه تر اوسه چاپ شوي نه دي ده پخپله هم ځانته شاعر نه وایه او کله چې به د ده نږدې دوستانو ده ته شاعر وایه، نو دی به په خندا شو او داسې به یې ښوده چې کوم ندی دی شاعر نه دی. خو سره د دې هم استاد به کله نا کله شعرونه ویل. خو هیڅ کله یې خپل شعر په عام مجلس کې نه دی لوستلی.

استاد مجروح لکه د نورو فیلسوفانو په څېر د انسان ژوند او آزادي د معنی د لټون د پاره د حقیقت او معنویت د لارې ابدي لاروی ؤ، او د دې لارې په اوږدو کې کله د ځان او زمان (د نا آشنا سندرو) په شعرکې او کله هم د جهان او طبیعت څخه (د کنز سیند) په شعرکې او ځینې وخت د یو ماشوم څخه (د توري بلا) په شعرکې په ډېره بې پروایۍ سره پوښتنې مطرح کوي، د استاد فلسفي

دید یواسا سي تهکی دعیني واقعیتونو درک کول او په زړه پوري تیا د هغو بیانول دي چي د دې خبرې مثال مونږ د ده (دیوې پښتنې مور پیغام) او همدا رنګه «د وطن مور» په شعر کې لیدلی شو. په دې شعرونو کې هغه لوی او عظیم واقعیت پروت دی چي شاعر لې په ډیر مهارت سره د مور او ځوی (لاروي) په د یالوګ کې په زړه پوره تیا سره بیانوي.

په حقیقت کې استاد سید بهاؤالدین «مجروح» د حقیقت د لارې شهید دی. ځکه هغه څه چي ده لیدل ویل لې، یا نورو نه لیدل، او که لیدل لې نو د ویلو څخه لې عاجز وو.

مونږ د استاد هغه شعرونه چي لاس ته راغلل په دې مجموعه کې راټول او تاسو ته لې د ده د شهادت د کلیزې د نمانځنې په مناسبت وړاندې کوو.

«د افغان اطلاعاتي مرکز لخوا»

پېښور، فبروري ۱۹۸۹

ناآشنا سندري

شاعر او زمانه

شاعر:

هر ماښام هر ماز يګر يم ، دګو در په لوړي تللې ،
نيمه شپه پټ ، پټ ور غلی په پالنګ لې ور ختلی ،
هر سهار د بنګړو شرنګ لې زه له خوبه پا څولی ،
په تياره کې د چړګ بانګ لې بيا له غيږ نه يم شړلی ،

★★★

داشينکی خال دمه جبين ،
پيکی او ربل ، سرکي لبان هم
د سرو پين وان ، هار لونګين
د زلفانو ښنا ماران هم
هم خرام ، خرام راتللی تلل
ماتل ستا يلی د ی تل

★★★

په خزان او په بهار ما
تل د ګل زیړ رنګ لیدلی
د بلبلو چغهار ما
غم ماتم د عشق بللی

★★★

د شمعې په رڼا کې ما ژړا لیدلې ده
ستې پتنګ ایرو کې ما و فاموندلې ده

★★★

ننګ ناموس بخونو ستایلی
په پیغور یم شرموّلی
په مور چو یم خیشوّلی
د مرګ لور ته یې استولی

★★★

د ناآشنا سندرې د کې پیمانې ما واخله
په ژړا مې ژړ ولې زمانه ده
په سلګو، سلګو له ځانه شوم ستومانه
لټوم اوس بل جهان بهر له ځانه

★★★

ساقي راپاڅه ! نوی جام نوی شراب غواړمه
بل شان خیال، بل شان سوال، بل شان خواب غواړمه

زوړ فصل پړیږي ده نوی باب نوی کتاب غواړمه
د ناآشنا لرې ملکونو افسانې راواخله
د ناآشنا سندرې ډکې پیمانې راواخله

زمانه :

ای شاعره ! لیونیه !
زمانوم دی زمانه
ماته وایۍ د عمرونو پیمانه
ځوانې مې بې زواله
ښکلا مې بې مثاله
زه ساقي یم
خوساقي د مرګ او ژوند زهرو شرابو
خو هرچا ته په هرځای او په هر وخت کې ناآشنا دی
ځکه یو وارې شکل کیږي
د ژوندون سندره ډیره پخوانۍ ده
خو هرچا ته په هرځای او په هر وخت کې نوی ښکاري
ځکه یو وار ویل کیږي :
د ژوند او مرګ رښتیا سندرې
پخوانۍ که او سنۍ وي
تل به نوی ناآشنا وي

تل به وي د عشق د سوز سندرې
راشه وا وره افسانې دژوندا او مرګ څو،
جاویدانه ترانې د عشق او مینې ....

«اورفیوس» «اوریدیسه»

دا سې وايي، په قدیم، قدیم یونان کې
ستا په شانې یو شاعر و لیونی
په نامه د (اورفیوس)
خوږ آواز يې د جذبو ساز و سرود و
په سندرو کې يې پټ د عشق پیغام
راوسنځي، لوی واړه به غوږونه یدل پرې
د نغمو سحرا و جادو يې
محوه کړي ټول جهان و
د هوا مرغانو غوږ ده آواز ته
غرځنې، زمري، لیوان ورته آرام شول
باد به ودرید
سرودونو ورته ځوړند
روان سیند، روان سرود ونه ږ ننه یدل
تیږې کاڼي نرمیدل .

"اوریدیسه"

یوه پیغله نازنینه
په ښکلا بدرجماله
د آسمان دستورو ناوې
شوه مینه په « اورفه »
عاشقان سره واده شول
خو د وصال شیبې وې لنډې
یوه ورځې « اوردیسه »
ګرځیده د سویلو سره
په د ښتونو، چمنونو
یوشپونکی ئې د جماله لیونی شو
چه راګیر کړي « اوریدیسه »
ویلې : دا مرغئ به ساتم
دخپل خوبن زړګي پنجره کې
"اوریدیسه" وارخطا په منډه، منډه
تښتیدله په د ښتو په غرو رغونو
یو تورمار ئې پروت کړې ورې په لارکې

«اورېدیسې»، پرې پښه کېښوه ناڅاپه
د اغوږي زهر مهلک ؤ
«اورېدیسه» له دنیا لاړه
«اورفیوس» په واویلا شو
په ژړا یې کړېوان لوند کړ
د آسمان ځلانده ستورو نه یې ګیله کړه
ارواکانو، خدایانو ته یې زارۍ کړه
اجازه یې د سفر غوښته د بلې دنیا خواته
چې پیدا کړي خپله ورکه «اورېدیسه»
نو روان شو د تورتم جهان په لوري
د ارواحو د امواتو قلمرو ته
«تناروس» د غار د خولې نه
ښکته لاړ د ځمکې تل ته
لومړی تېر شو د ارواحو د اشباحو له هېواده
د تورتم د دنیا ستر واکمن «پلوتون» ؤ
ستر واکمنه «پروزرپینه»
«اورفیوس»، ورته حاضر شو په دربار کې
«اورفیوس»، په دا سندرې
په زارۍ، زارۍ یې داسې ورته عرض کړو
"اربابانو؟ ای د مرګ او د سپوږمۍ زمامدارانو؟"

دا موا تو دا شیا حو دا رواحو با دار نو
تول ژوی راروان آخر رارسي دې دنیا ته
هیڅ لاره کومه چاره بله نشته بلې خواته
نه نه ثروت، نه خزانې، نه کوم قدرت غواړمه
یم په نامه دعشق راغلی عدالت غواړمه
خپله دنیا دخپل ژوندون په معنیٰ لټوم
خپله مینه «اوریدیسه» دلربا لټوم
دژوند دنیا په دیر بې وخته بې له ما راغلی
دعشق او ژوند قانون مات شوی نیمه خوا راغلی
یو واري" اوریدیسه" ژوندۍ را دعشق په پاس بیا
بخپل وخت به حاضرشو دې دربار ته لاس په لاس بیا
"اورفیوس" به داسندرې
په خواږه او په غمجن آواز ویلې
دا نغمه دومره خوږه وه سحر آمیزه
چې تورتم کې ارواګانو به پرې اوښکې تویولې
دوزخي دنیا ساکته شوه حیرانه

«پروزرپینه»

دتورتم دنیا واکداره سترواکمنه!
په ژړا شوه

هغا بیرحمه «پلوتون»
با دار د مرګ او ژوند
ستر تولواک د جهنم هم زښت غمګین شو
«اورپدیسه» یې احضار کړه
دار وا حوله قطاره
«د اورپدیسه» مار چیچلې
ګوره، کوره راښتڼدي شوه
«اورفیوس» کړله حاصله اجازه دستنیدو
د ژوند دنیا ته
خو په یو شرط :
چې ترڅو د مرګ او ژوند له سمندره پورې نه وځي
ترڅپل شا به (اورپدیس) ته نظر نه کړي
« اورفیوس» په مخ روان شو
«د اورپدیسه» ور پسې
په تیاره تورتم دنیا کې
د چو پتیا په دهلیزو کې یې سفر کړو
د نا آشنا سمندر غاړې ته ورو، ورو ورنژدې شول
داهغه مرموز دریاب و
چې تیاره یې له رنا جدا کوله، مرګ او ژوند یې یو له بله بیلولو
«اورفیوس د خوشالۍ نه هرڅه هیر کړل

شاته ئې وکتل چې پوه شي
(اوریدیسه) پسې روانه ده که نه،
(اوریدیسه) ئې ولیدله
چې روانه وه رپسې وه
اما یو د ستر کو رپ و
یو دیدار و آخرین
یو د بل غیب ته تښتیدې شول
غیب کې تش خالي هوا وه
بیا غبار شو، بیا دمه شوه
د توره تم دنیا په لورې «اوریدیسه» بیا ستنه شوه
«اورفیوس» د دریاب هاخوا
د ژوندو په ساحل پریوت
بیا ژړا بیا ئې واویلا کړه
خو افسوس!
د امواتو بیړی دا سې جاله وان و
هم سنګدله هم بې رحمه
د بې رحمو په فرمان و
«اورفیوس» ئې تښتیدې پرې نښتو د کشتۍ ته
ونه، تنۍ کړ ځیده د سیند په غاړه
په شپو ورځو ئې نه خوب و نه آرام

کانو، بوتو به ژړل دده په حال
د مرغانو ځناورو زړونه خوږ شول
«اورفه» او ښکې تو یو لې
نغمې د عشق او مرګ به لې
په خوږ آواز و یلې، نه لې محکې نه آسمان ته اعتنا وه
نه د بخونو د ښکلا، د محبت ورسره پروا وه
شپه او ورځ و د خپل عشق په غم کې ډوب
ښکلو پیغلو ورته دام د زلفو کېښود
خو «اورفه» د زړه مرغه نه شوه راګیره
پاس د خیال په آسمانو لې جګ پروازکړو
آخر بخونه شو «اورفه» ته په غضب
یوه ورځ شولې راغونډې
نیت لې وکړو
چې: «اورفه» به زورونو
چاړه، چا نیزه کړله تر لاسه
هره تیږه یا نیزه چې د «اورفه» په لوري تلله:
د نغمې خوږه آواز به نرمو له
«اورنیوس» د ښونخا ورو ته لویدله
بخولې ډیرې په غضب شوې
په دې نیت چې کړي آواز د نغمې ورک

نو، په چغو شور ما شوړ ئې کړ و لاس پورې
آخر ور رسیده تیږه خپل هدف ته
یوه نیزه هم د «اورفه» په وینو سره شوه
پیغلې تو لې د غضبه لیونۍ وې
د «اورفه» بدن ئې توټې توټې کړو
هر یو غړې ئې له بند بنده جدا کړو
سر ئې پرې کړلو د سیاب نه ئې غورځار کړو
د دریاب څپو په غیږ کې
د «اورفه» سر خاموش نه شو
نا آشنا، نا آشنا سندرې ئې لا نورې هم ویلې
د سیند پورې هورې غاړو د دانغې تکرارولې
د ځنګلونو د سیندونو الهی نه امر وشو
چې را ټول کړي د «اورفه» توټې بدن
"لیبترا" نومې مقام کې
دې توټو وکړو په خاورو کې آرام
داسې وائي :
د"اورفه" په خاورو باندې
یوه شنه ونه ده ولاړه
بې نیازه له بهار او له خزانه
یو بلبل پکې همیش جوړ وي ځاله

شپه او ورځ وايي نغمې په هسکه غاړه

خلك وايي :

د دنيا په هيڅ هيواد کې

د بلبل داسې خوږې سندرې هيڅ نه دي اورېدلې

"اورفه" لاړ و "تاريوس" ته

د تورتم د نيا په غېږ کې

"اورېدېسې" سره يوځای شو يوځل بيا

****

شاعر :

نا آشنا قصه دې وکړ له دلبرې زمانې

دغه عجب پټ راز نه دی خبرې افسانې

عشق د مرګ په غېږ کې د ژوندون معنیٰ پيدا کړي

ژوندې عشقه مرګ شي په بيلتون بقا فنا کړي

عشق د ژوندلو يه معنیٰ ده د شعور په تورو شپو کې

عشق د شپې فاني رڼ ياده د سحر په پلوشو کې

زه انسان په تامين يم ستا د غېږې په ارمان يم

تل ژوندی په آرزو باندې زه د عمر جاودان يم

تل د ستر ګو په رپ درومي د ماصنم تورتم، تورتم نه

سرګردان د رپسې ځم زه، د او امو جهنم ته

دا عالم خزان صحرا ده ، ته بهار ئې افسانه ئې

تہ شراب دڅښونکو تہ لېږي

تہ ساقي د مرګ اوښوونکو د هستۍ لاریې زمانہ یې

"او ریدیسہ" جانانہ لې

زمانہ :

ای شاعره لېونیه !

ستا جنون کې هوښیاري وینمه

په اسرار د عالم پوه یې

چې بیدار پہ نیمو شپو یې

عشق او مرګ سره ملګری له ابده

عشق د مرګ سره دوستي هم دشمني کړي

عشق د مرګ سره منزلې اوږدې کړي

عشق د مرګ سره منګولې دي ورکړې ....

راشه ! واوره یوه بله افسانہ

شنه لمن د هسکو غرونو

به وي تا لیدلې دېرې

په اوږدو وچو پو درو کې

به دې کړې وي ګذر

اوریدلې خو بہ تا وي

یو نا آشنا غږ مکرر

که آوازدې په چاکړی پدې شان وي
راشه ! راشه ! زه یم دلته
ناآشنا غږ به وي څواب داسې در کړي
زه یم دلته ! زه یم دلته ! زه یم دلته !
دا ناآشنا غږ د"انکو" دی
چې څواب د هرچا وائي
خو هیڅوک یې له داستان نه خبر نه دي

انکو :

وائي ، وائي چې پخوا یونان کې
یوه مشهوره الهه وه
ښکلې لور د هسکو غرونو
ژبې یې دلې په ځنګلو کې
روزل شوې شنو درو کې
مورېې نوم وربانديې کیښوده «انکو»
په پالنګ د شنیلو به یې آرام کړو
د بهار ورځې په شا باندې سوره به کړځیده ....
"انکو" سرتر پښو ښکلا وه ، زیبائي وه
خو درلوده یې یو لوی عیب یو بد صفت
خبرلوڅه وه بې شانه ،

کېدله به ډېر زيات ته
په خوله حاضر جوابه
وروستنۍ خبره تل کړله "انګۍ"
يوه ورځ د ورځ "ژونونو"
مقتدره رب النوعه چا خبر کړه
چې ميړه يې "ژوپيتر"
دځمکو آسمانو خو دمختاره زما مدار
چرته پټ، پټ دځنګلونو او چينو د الهو سره
کوي بوس و کنار
"ژونونه" شو حسوده
تروه کرځيدله خپل ميړه يې لټولو
مخامخ شوه د انګۍ سره
"انګۍ" پيل کړو په خبرو
"ژونونه" د ومره شوه په سوال ځواب مصروفه
چې الهو فرصت پيدا کړو
زر زر لاړې شولې پټې هره خوا
چې "ژونو" شوله خبره له احواله
نو، له قهره يې "انګۍ" ته داسې وويل :
اى بې شرمې! خبر لوڅې !
په دې ژبه دې چې زه وغولولم

پس له دې نه به نور هيڅ د ر په کار نشي
پس يواځې به پرې والئ تش ځواب
هميشه به وروستنۍ خبره ستاوي
خو هيڅکله به آغاز د کلام نه کړې
يوه ورځې يو نا آشنا ښکلې ځلمی
په نوم "نرگس"
د طبيعت د ارولکا نو نان ښين زوی
راوتلی ؤ په ښکار د غرو په لوري
لومړی ښکار لې په نصيب
د بې نصيبی "انگی" زړه شو
ليونۍ شوله له عشقه
پټه، پټه په نرگس پسې "انگی" شوله روانه
زړه ئې ډک ؤ د خوبنو، خوبنو خبرو
خو آغاز ئې د کلام کولای نشو
منتظره وه نرگس ته
چې لومړی يو څه بيان کړي
د "انگی" آواز تيار په شبه پروت ؤ
يوه ورځ نرگس يواځې گرځيدلو
نور ښکاري ياران ترې ورک ؤ په دروکې
داسې غږ کړ:

تاسې چېرته یاست ؟ زه دلته یم، زه دلته !!
"انګې" زر ورته ځواب کړو چې :
زه دلته یم ! زه دلته !
د "نرګس" حیرانونکو سترګو
هاخوا دې خوا وکتل
څوهیڅوک یې نه لیدل
نو، بیا یې غږ کړ :
راشه ! راشه ! دلته راشه !
"انګې" زر ورته ځواب کړو :
دلته راشه ! دلته راشه !
"نرګس" بیا داسې ناره کړه :
ته ما ولې څوروې، راځه چې سره یوځای شو ؟!
"انګې" د زړه د کومې په اخلاص په محبت وویل داسې :
راځه چې سره یوځای شو ! راځه چې سره یوځای شو !
په جلتۍ شوله نژدې د نرګس خواته
چې لاسونه کړي ترغاړې ورچاپیره
کبرجن نرګس زرشا ته قدم کیښود
ورته یې وویل :
مرګ مې قبول دی نه ژوندون مې ستا په غېږ کې
"انګې" ورته تکرار، تکرار ځواب کړو :

ژوندون مې ستا په غېن کې! ژوندون مې ستا په غېن کې!
"نرګس" ترینه ځوان شو دورې، دورې
"انګې" له شرمه پټه په ځنګلو شوه
ښکلې جسم یې ورو ورو محوه شو د عشق له غمه
غوښې پلې یې په تدریج ویلې کیدې
له هډوکو یې د برې جوړ یدې
خو یوازې باقي پاتې ترابده یې آواز شو
په قدیم عادت تر او سه ځواب وائي چې څوک غږ کړي
آخري آخر خبره به همیش کوي "انګې"

شاعر:

کائیناتو له کنبده
منعکس د عشق آواز دی

ماوراء له ښه او بده
بې نا آشنا عجیبه ساز دی
یا زما له زړه ختلی کوم غږ پاس دی
را معلومه نه ده
د عالم په سطح کې ناسته پټ پنهانه یې
"انګې" د زماني:
منتظره زما غږ ته زړه پریشانه یې

ژمانه :

ای شاعره لیونیه !!
اننګې پرېږده پخپل حال
راشه واوره چې په څه شان د نرګس کبرن وال شو

نرګس :

نرګس یوا ځې په" اننګې" ستمګرنه و
جفاکاره و بې رحمه
ښکلې پېغلې یې ځوروله وې بې شماره
الهی لې درد یدلې وې له عشقه
یوه ورځې یوې پېغلې
چې عبث کوشش کولو
د نرګس زړه دخپل ځان کړي
نوله ډیرې نا امید ی ئه نرۍ دعاکړه :
ای نرګسه !
جفاکاره ، ستم ګره !
مبتلا دې له خدای غواړمه دعشق په درداو رنځ
یوه معشوقه بې پروا ، بېرحمه ، کبرجنه دې نصیب شه !

د انتقام الهي دا دعا قبوله کړله
پټه په ځنګله کې یوه چینه وه
دآئینې په شان رڼه وه
او به یې لکه او ښکې څلیدې
غاړې فرش په شنیلو وې
یوه ورځې په غرمه
نرګس تږی، ستومانه
له ښکاره شو را ستون، ګذر یې په چینه شو
سر یې ټیټ کړ لو او بو ته
چې کړي تنده خپله ماته
یوناڅاپه یې ولید خپل مخ
داو بو په آئینه کې
د نرګس شو دا ګمان
چې کومه ښکلې د او بو روح
په چینه کې ورښکاره شوه
خماري سترګو حیرانو
سپین جبین پیکې و لول
سر کې مسکی شو نه، نوغندل غاړې
د نرګس زړه کې ویان کړو
لیونی شو

زړه يې بايلود په خپل ځان
نو، نږدې به شو او بو ته
ورخواره يې کړه لاسونه
خو تصوير به ورکيده
محوه تار په تار کيده
او، څو شيبې به وروسته دوباره راښکاريده
زاري کاڼه به نرګس کولې داسې :
اى بې‌رحمې ! جفاکارې ! ستمګرې !
داڅه لوبې ته په ماکوې ظالمې ؟
چې در ته لاس کړم راته لاس کړې
چې در ته خاندم راته خاندې
چې در ته ګورم راته ګورې
خو، چې درنږدې شمه خولګې وغوارم
نو راته لرې ځې پټيږې ولې ؟
زما سينايست دجهان بخوږې کباب کړې هره خوا
زما ځوانۍ دالهوزړونه داغ کړې دي ډير
ته ولې ماته اعتنا نه لرې ؟
يوه او ښکه يې له سترګو نه راتوى شوه
په چينه کې ولويدله
داوبو په آيينه کې يې تصوير کړو تار په تار

"نرګس" شو له فراقه اندیښمن
نو یې داسې هیله وکړه :
دلبرې نازنینې !
که خولګۍ نه راکوې مه راکوه !
که غېږ نه راځې، نو مه راځه هیڅ
خو پټېږه هم مه
تش دیدار دې رامابس دی
اجازه راکړه چه تل دې تماشه وکړمه
"نرګس" هېرځان او جهان کړو
بې خبره دلوړو تندو دڅېنې په غاره کیناست
تماشا یې دخپل مخ کړه
زیړی رنګ یې رایاتید لو
ښکلا یې کمیده له
ځواني یې کمیده له
په قدم، قدم د مرګ خواته روان شو
کله، کله به یې چیغه کړه له زړه نه :
آرمان، آرمان ! افسوس، افسوس !
نو ؛ "انګې" به داد دردچیغه بیا تکرار وله :
آرمان ! آرمان ! افسوس ! افسوس !
د "نرګس" بدن شو محوه وروه، وروو

د مرګي درياب کې ډوب شو آخر
د سيند ونو الهو !
آڅوا ګانو داوبو
توی داو سکو باڼو نه کړلو
دچينې غاړې ته لاړې
د نرګس کالبد يې هر خوا لټولو
چې پېږي جوړ د عشق زيارت کړي
مګر لټه بې فايدې وه
د کالبد کوم اثر نه ؤ
خو په هر ځای يې د چينې نه
راشين شوی نا آشنا ګل ؤ
لکه ستر ګه وه حيرانه
تماشائې د جهان کړه
په مخ کې نيږی رنګ
کېن چاپېر ترې سپينې پاڼې
د دغه ښکلي ځوان د غمجنې خاطرې په ياد ګار ،
پدې ګل باندې نوم کيښود شو : " **نرګس** "

شاعر :

لاړوی د نيمې شپې يم

PROPERTY OF ACKU 722

لړې، لړې منزلونه کړم بې ځايه
بې خبره وړېږي يم
نه پيدا کوم دمه ځای بنکارې ي له وړايه
ستا کمال زما جمال دی
مين شوی يم پخپله په خپل ځان
لنډه لار د دلته وصال دی
د حيوان چينه ده زړه د هر انسان
د نرګس ستر ګې حيرانې
سرګردانې په سراب د آئينه کې
اميد ونه، آرزوګانې
قطرې اوبنکې دي د د هر په چينه کې

د وطن مُور

دکوچنۍ اختر په		د میزان ۲ مه ۱۳۵۵ کال ، کابل
مناسبت

زمانه شوله آخره
عجیبه خبرې آورم
د وطن مورته یوچا داسې ویلې :

لاروی :

ای د وطن مورې !
په ما گرانې په زړه پورې !
زار قربان دې له میروشه
د سپین و شړ و دشتوشه !
خو لعنت دې په بچوشه !

***

اې د وطن مورې په ماگرانې !!
نن اختر دی ، بختور دی
داکمیس دې پړ ون تور ؤ
نن هم تور دی

خړ پړ توږک دې څيرې ، څيرې
نوي نه شو ،
خو ، اختر دې مبارک شه
ګرانې مورې !

***

اې د وطن مورې !
سنه دې ، بنه دې
چې پړ توږک دې خړ بخن دی
څيرې ، څيرې
د هيچا نه پکارېږي
نه خرڅېږي
ځکه ستا بچي ډیر نه بنسته نارينه دي
خرڅوي د مور پړ توږک هم

***

اې د وطن مورې !
ستا بچي څنګه بچي دي ؟
انسان نه دی
دی پخپله هم هيڅکله ،
ځان ته نه وائي" انسان" یم
کله وائي" زه مرغه يم"

بیا پیښې کړي د مرغانو
کله والئ «ځناور» یم
په څلورو شي روان بیا

***

ای د وطن موري !
ستا بچي خو انسان نه دی
را ته ووایه خپل راز اوس
تا راوړی دی له کومه ؟
له کوم اصله ، له کوم ذاته ، له کومه نسله ؟ ؟

***

ای د وطن موري !
را ته ووایه خپل راز اوس
ته چي پیغله ښایسته وې
څه پسات در باندې وشو ؟
دا نګر تو شا بیدیا کې
ستا کوم غل د لاس رسې مل شو ، ؟
یاد شپې په ترکۍ کې
څه بلا وه ؟
په پالنګ درو ختله

***

ستا بچي وائي :

„ځناور يم“ خو باچا د ځناورو

„زه يم زمري ـ پدې نړۍ ترما اتل نشته ،

بل په کابل نشته ؛ بل په زابل نشته“

په رښتيا چې ځناور دی

خو، باچا د ځناورو

بيکسانو ، بيوزلانو ته شين پړانګ دی

غوښې خوري دګونډو ، رنډو ، يتيمانو

ما توي ورور او تربورخپل

چې نور زيات وربانديې برشي

نو ، ګيدړ شي

چل وتې کړي

ځغلوي د کور چرګان بيا

***

دا عجيبه ځناور دی

ځکه هيڅ ځناور داسې کا نې نه کا

چې قوي وي خپل خپلوان خوري

خپل همنوعي نا توان خوري

بيا چې نور وربانديې برشي

څوړ غوږ ونه لکه خر شي

ملائې ماتہ ،
ظلم او زور تہ تسلمیږي
استبداد تہ غاړہ ږدي
هم ددہ له برکته
استبداد ـاپیداکیږي
ساتلکیږي
هم بیدارہ ، وفادارہ
دقدرت درګاه ساتینه
دزړ وجاموخاوندتہ غاړي لاپي

***

ای دوطن مورې !
راتہ ووایه خپل ـاز اوس !
انسانان خوداسې نہ وي

***

کله وائي :
زہ مارغه یم
جګ پرواز ی ، لوړهمتی
ډرنیکه زما عقاب دآریانا دی

***

ای دوطن مورې !

خدایه ته وګوره کیسه دې راته وکه !
چې مارغه ته څنګ واده شوې ؟
څه درو شو ؟
انسانانو خو داسې نه کړې
هغې نشي اچولای

***

خو دا څرنګه عقاب دی ؟
بې غیرته ؟
چې شاهین پرې راښکاره شي
له اوچته
دا سر کوزی

دوښو لاندې پټیږي
سر په خاورو کې دننه
لکه پورته
دی عقاب نه دی تپوس دی
لټوي په دېرانو کې مرداري
ګنده بې کړې شدیارې

***

ای د وطن موري !
په ماکرانې په زړه پورې !

دا بچي که ستا بچي وي
تُف لعنت دې په دا هسې ژېړ ېدو شه

مور :

لاسه ویه ! نه ما زویه !
ځواني مرګ شې
ګېږې وږې نورې بس کړه !
تپوس نه را نه مه کوه !
پېغله مسته بې خبره دد نیا وم
په هوا په کړځید مه
تر څو نا څا په لینګي مې په هوا شول
خبر نشوم څه را وشو...
ای زما نا اهله زویه !
څه تپوس کړې ؟
دا زړې خبرې ولې یادوې تر ؟
په پرهار باندې مې مالګې دوړوې تر
تېر وختونه څو تېر شوي
اوس ما بنام دی
شپه نشه دې ده
تېرې شوې نه مالې څه پکارېږي ؟

دا نن شپه ماته بلا ده
د سبا ورځې داريږم

په ما هر پسات چې کيږي
د شپې کيږي
و هل کيږم ، تړل کيږم
په تورتم کې
چې سبا شي بيا خبر شم
چې بچو ، خپلو بچو يمه تړلې
يوه بل نوي ميړه ته يې واده کړې
يو تر بوره لې دي شړلې
بل تر بوره ته لې ورکړې
په دې شاني خرڅوي ما
په ظالمو ، مستبدو ، زورورو
په بار ، باري ودوي ما
عمر تېر شو ،
ناوې توب مې نه ختمېږي
داچې ته ورته تاريخ واې
څه بيان کړې ؟
داسې وايې :

"یوه ناوې وه چې سل کرت واده شوه"

هغه زه یم ،

اوس نو وایه !
چې په زور ظلم واده شي
څو ، څو واره
په جبري نکاح پالنګ ته را بنکل کیږي
په رڼا ورځ سره د ولږې کې راوړل کیږي
بیا چې شپه شي توره شپه شي
په زوړ کټ کې تړل کیږي
وهل کیږي ،
چې تا ولې بکارت نه دی ساتلی ؟
اوس نو وایه !
د دې هسې مور اولاد به څه اولاد وي ؟
زما لږ غوندې امید ؤ
دا چې به خدای را لوی کړي
سړیتوب به له چا نه ده کړي
درونه نظر به ئے ته وکړي
ظالمان به ئے نه وشړي هر خواته
پخپل منځ کې به سره کیني

د انصاف او عدالت ترې بړکېږي دي
خولا اوس هم
د وی بچي د ې سرې نشول
مورئې يوه ؛ بيل بيل پلرونه
يوله بل سره دښمني کړي ، تربګني کړي
د وی پخپله را ولاړ شي
يو ميړه ساته پيدا کړي زور ور
واک اختيار په لاس کې ورکړي
بيا ژړا کړي واويلا کړي
ماته ناست وي
راته وائي :
چې دا پلار مو پلندر دی
په مونږ ظلم او ناروا کړي
لاس ويه ! زمانه ويه !
ښه په ياد مې هغه شپه ده
زه بيده وم
ناڅاپي په ما خوږې شولې منګولې
خوله ځانه خبريدمه
لاس اوپښې مې وې تړلې
خوله مې بنده ،

د قرنونو تجربه تکراریده له
شومه غلی
ما وی وکړی بچو وکړه، هرڅه وکړه !
لبن لبن ؛ وړو وړو ،

چي سبا سهار رڼا شوه
نو کتل مي
یو مېږی په کور کي ناست ؤ
بدهیبتی
بد آشنا د تیر کلونو
داخو هغه لیونی زما سردار ؤ
چي له خدایه مرور ؤ، تل بندګانو ته بدقار ؤ
یوه شیبه یې ما ته شاکړه مرور شو
لاړ وکیناست چرته غلی
په کلونو کلونو وروسته اوس ؤ بیا یو ځل را غلی
زړه مي وویل: څه خبر یې، دغه زوړ آشنا چي بیا پټ پټ را غلی
کوم آفت، کوم مصیبت یې دی لګیه پوري تړلی
خو، بچو بد ذاتی و وی :
دا سړی نوی سړی دی
هغه نه دی

زمانه ده نوې شوې
پخوانۍ زمانې لاړې
بیا به هیڅکله رانشي
تیر وختونه، زوړ ظلمونه
نوی باب، نوی کتاب دی
نوی ژوند دی،
انقلاب دی،
د سبا دنیا رڼا ده
تر کلي به نوره نه وي

***

خو چې شپه شوله تور تم شو
بیا هم هغه تکول وو راښکول وو
د قرنو تجربه تکراریدله
شومه غلې
څه موده لا تیره نه وه
چې زما چې بد ذاتي
راته راغلل
په ژړا په واویلا شول
چې دا نوی پلار تر نورو هم ظالم دی
هم وهل، هم تکول کړي

هم وژل کړي

***

ای ښ ماکمبخته زویه ! لاړ ویه !
دا زړې خبرے ولې یا دوې ته
په پېرهار باندې مې مالګې دوړوې ته
د تیرو وخت رایا دول څه پکار یږی ؟
دا نن شپه راته بلا ده
له سبا ورځې ډاریږم
چې بدکله ما تړي څوک
د بلچا لاس ته سپاری څوک

هیچ موجی ازکنار این محیط آگاه نیست
من زخود بیرون روم تا ساحلی پیدا کنم

«بیدل»

○

دکنر سیند

ای زما د زړه دریابه !....

نوټ ۱

عبدالرؤف "بېنوا" د پښتو ژبې او ادب ستر نامتو شاعر او ليکوال او د دې مجموعې د ليکونکي پخواني ګران دوست، په افغانستان باندې د روسي پوځونو حملې نه وروسته په کال ۱۹۸۰ع کې د ببرک کارمل د حکومت په نمايندګۍ په ليبيا کې سفير شو. له دغې نېټې نه وروسته دوستانو خپله رابطه له ده سره قطع کړه.

لکه چې د روسانو يرغل او د کارمل او د روس پرچمي او خلقي غلامانو په قدرت کېناستل، د افغانستان د پاره يوه ملي فاجعه وه؛ د اشان دوطن د ښمنانو سره د "بېنوا" همکاري د پښتو ادبي محافلو د پاره يوه دردناکه حادثه وه.

دى تر کال ۱۹۸۵ع پورې په ليبيا کې سفير پاتې شو. ده هـ ې کال د فبرورې په مياشت کې امريکا ته د علاج د پاره ولاړ. دى د هډوکو د سرطان په بد مرض اخته شوى و. او شفاخانې ته د رسيدو تر مخه وفات شو. عمر يې د ۷۵ کلو په شاوخوا کې و- وايل کيږي چې په جنازه يې هيڅوک حاضر نه وو.

کاشکې جنګ کې د افغان په ننګ کې مړ واى
نه چې ګور لوره ـ وان شـو له تلتکه

دا منظومه د آزاد شعر په بڼه په کال ۱۳۵۵ د عقرب په ۲۱ مه ، د جمعې د ورځې په ۱۲ بجو د پښد جالې په غاړه شروع شوه ، زه هلته د استاد "حبیبي" په ملګرتیا دیوه رسمي هیئت سره تللی وم ، او د سید جمال الدین افغاني د زېږېدو ځای په ځایېر پوښتنې موکولې .

استاد "حبیبي" د هیئت سره پښد ته پورې وُت ، او په زیارتونو ګرځېده او دعا ئې کوله چې که خدایږ ده غو زیارتونو له برکته ورته د سّید او ده غه د پلار زیږېدو او استوګنې ځای وروښائي . مګر څو ګه چې ماد کنړ سیدان پیژندل ، د هغوی د پلرونو او نیکونو له کراماتو څخه خبر وم او ښه پوهېدم چې هغوی به د استاد "حبیبي" دعا هیڅ قبوله نه کړي ، نو ځکه زیارتونو پسې لاړ نه شوم .

د جالې په غاړه د هغوي په انتظار کښیناستم او د کنړ سیند په ننداره شوم .

رښتیا هم د کنړ زیارتونو استاد "حبیبي" ته هیڅ ځواب ورنه وایه . مګر د کنړ سیند نه ماسره خبرې وکړې او د هغو خبرو څخه دا منظومه جوړه شوه بیا دا د آزاد شعر منظومه ښاغلي « بلینوا » ته اهدا شوه . بیا یو کال وروسته په جلال آباد

کې د دلوی میاشت وه ، د پلار په اشاره او توصیه دغه اونۍ ده منظومه څه لنډه شوه او په دوه سوه اته اویا (۲۷۸) بیتو کې ئې د مثنوي بڼه پیدا کړه .

"دکړ سیند" د آزاد شعر بڼه

داسې وه :

بینوا ته اهداء

که دې واکړه شرابونه دریابونه
په کاسو د آسمانونو
په سرو وینو د شفق رنګ
که نیشه شوم، لیونی شوم
نو کیسه به درته وکړمه ستا خپله، زما خپله

○

ته بادرده بینوا ئې
د پښتو ژبې باچا ئې
خدائ دې ډوب کړه
ستاسندره مې په غوږ کې انګازه کړي

سبه سندره دځوانۍ ده

سبه پیغام دځلمیتوب دی

تاویلې: "غلی غلی انقلاب دی، بدلوي دزمانې رنګ"

○

دا رزنونه، داخیالونه

څاڅکي، څاڅکي تو ئیدل دزړه پیاله کې

بیا پیاله شوله لبریزه

بیا دریاب شو

دا زما دزړه دریاب شو

درروان شو...

خدای دې روب که

دوهمه برخه

پلارته :

١- پلاره! تا وې: "ستا اشعار ډك له پيغامه
خو آزاد دي، تنګ تكور دي بې مقامه

٢- لږ يې پوخ كړه، لږ يې وزن كړه تمامه
نو به هله ستا خبره نه وي خامه"

٣- نو د "زړه درياب" مې بيا منبع ته ستون كړو
خپل داستان مې لږ وبر دلته موزون كړو

٤- بيا يې واوره له آغازه تر انجامه
درته ښكاري اوس تمام كه ناتمامه؟

جلال آباد، د دلوې دوهمه
كال (١٣٥٦)

دکنړ پرسيند تقريظ

گرت آيد يکی جوئی روان پيش
مدد بخشش ز آب ديده خويش

چې دخولې هم د باباجي وحي آواز دی
نوم ديو وينا خبرې، د بل ساز دی

د وينا مطلب: خبر، هدف، پيغام دی
موسيقي واره آهنگ تال او مقام دی

چې يو ځای سره هم وزن هم پيام شي،
شعر يې نوم شي چې موزون د چا کلام شي

هر پيام خو په مثال وي د شراب وي
او وينا وي لکه جام دی نا بو

چې شراب يې وي ر نه پياله خير نه
د ساقي به يې څوک ونه کړي ستاينه

که دې مې وي د پیر رنه نشه لې ډیره
خو د لوښي صفائي دې نه کړه هیره

وسیله غایه بیل نه دي یو تر بله «۱»
واسطه لا څوک پیا مه کښي پخپله «۲»

ستا خو دا شراب د پیر سبب دي هم یې جام سبب
هم وینا دې ده مونږ و ته هم پیام سبب

•••———••••

سید شمس الدین «مجروح»
جلال آباد
دلو - ۱۸ مه ۱۳۵٤

«۱» د دې خبرې پر ضد چې وائي «
او د دې خبرې په تائید چې باید هم غایه سبب وي او هم وسیله.
«۲» د مارشال ماکلون د نظریې ته اشاره ده چې وائي :

لاړوی

٥- دکښې آزاده سینده ! مست خراب يې
ناپایاب لکه زما د زړه دریاب یې

٦- نه دمه کړې ، نه دریږې ، نه آرام کړې
نه دې شاته ، نه دې خواته نظر پام کړې

٧- هې بهیږې شور ماشور کړې تر ابده
ماوراء ددې دنیا له سینه او بده

٨- هې روان يې دروې دروې تل تر تله
ابدي سندره وایې خوږه خپله

دریاب

٩- زه راځمه د پامیر له هسک سواده
د پریانو ، ددیوانو له هیواده

١٠- دغه سیمه زما سیمه له ما بناده
دا دنیا زما دنیا ، په ما آباده

١١- دا استا نو نه د مرګ ژوند راسره روان دي
هم دننه ، هم دېږون ، د هر زمان دي

۱۲- نه يې ورمه تل تر تله په دا لوري
سمندر کې ډوبومه هلته دوري

لاروي

۱۳- اى زما دزړه دريابه ناآرامه!
دابد په لوري دروې بې انجامه
۱۴- هې ساوان يې تر چپې، چپې داستان يې
هم دنن، هم دپرون دهرزمان يې
۱۵- ستا ساحل کې کرې ماويرې خاپورې
قلا کې دشگو ماکړې ډيرې جورې
۱۶- ستا په غاړه ماوهلې ډېر دانگونه
ما په خوب همېش ليدلې ستا موجونه
۱۷- ستا بېهيرته ماکتلې په وار واري
ستا گدرځاى دديدار ورد لدا ري
۱۸- څه موده وم ستا نه لرې پريوتلى
طالبي پسې وم دورې، د ورې تللى
۱۹- دسيندونو، دريابونو پورې غاړه
ما ملکونه، هيوادونه وليد واره
۲۰- شاگردي مې ډېره وکړه د پوهانو
د فرنگ داستادانو، عالمانو

۲۱- اوس له ډیرې مودې وروسته خپل دیار ته
یم راغلی ستا ساحل ته، ستا دیدار ته

۲۲- خوګان مې هرګز نه شي چې بېرته یې وړي
دا مودې، مودې کلونه دومره ډیرې

۲۳- ځکه ستا جهان ثابت، هرڅه ثابت دي
ځنګل، غرونه هم په هغه شان ساکت دي

۲۴- نه هم هاغه شان روان یې په بې لارې
کله کوږ ځې، کله سم، کله په قرار یې

۲۵- کله چې شي غلی غلی خپل ځان خپور کړې
کله کاږ باندې ورخیژې شور ماشور کړې

۲۶- دا یې سندره وایې پروانه کړې
که څوک غوږ نه دي که یې نه دي سودا نکړې

۲۷- هر طرف ته یې روان بې التفاته
نه نظر کوې وخواته، نه دې شاته

۲۸- همیشه روان یې دروې، درومې تل تر تله
ابدي سندره وایې خوږه خپله

دلرغونو افسانو

قهرمان

۲۹- هلته وراندې ستا ترخنګه یو بزګر دی
پخوانۍ زړې جامې پټکی په سر دی

۳۰- هم تر مخه یې قدم، قدم روان دی
پخوانۍ زاړه، زاړه د ننګر غوایان دي

۳۱- په رخسار یې ملا تړلې کړ خمیده کا
د پټکي شمله یې شاته رسیده کا،

۳۲- پخوا زغاست دی خپل پټي کې په مال سپور
اوس هم کرځي، دا یې ژوند دی دا یې زور

۳۳- که لرغونی قهرمان دافسانو دی
مرګ یې نشته فرښته د آسمانو دی

۳۴- د آسمان په شنو دښتو کې زغلوي تل
غواړه د لمر ځلانده چلوي تل

۳۵- دا جهان چې ابدي دی حال ویجاړ کلک
دا دې غوایو په ښکرو دی ولاړ کلک

۳۶- دی ثابت، عالم ثابت هرڅه ثابت دي
دی ساکت ، جهان ساکت هرڅه ساکت دي

د قیامت استازی

۳۷- هلته پورې غاړه پروت ؤ یو لوی کلی
اوس هم پروت دی پر ښتنو ونو کې پټ غلی
۳۸- هم تر ښاڅې هدیره وه ښکاره اکونه
اوس هم هغه هدیره ښته هغه غرونه
۳۹- د ازل بانګي لګیا هلته آذان کړي
ابدي ناشنا پیغام، آشنا بیان کړي
۴۰- سپوږمۍ اوس هم غاړې تر آبده
ماوراء د مرګ اوژوند له سنه او بده
۴۱- پورې غاړه سپین جمات لوی چناران دي
هلته ناست د کلي خلک چپ حیران دي
۴۲- یو ملا هلته ولاړ دی هیبت ناکه
سپینه ږیره، اوږده ږیره، جامه پاکه
۴۳ منداري د بل جهان خلکو ته بنا ئي
دا استازی د قیامت تو لوته وائي

٤٤- د دنيا زحمت ترې سپک دی له حبا به
که خبر شي د خپل قبر له عذابه

٤٥- ستا د پاره لمبه شوي دي اورونه
سور انګار سرې سکروټې تنورونه

٤٦- لرهان ئې ملکان دي حاکمان دي
تورماران پهره داران تحصيلداران دي

٤٧- لار دې نشته بله چاره هيڅ نه مومې
ګوره نن دی که سبا ته به ور درومې

٤٨- دا دنيا فاني سراى دی وته شاکره
دا شوندون نن او سبا دی ځان فناکره

٤٩- دا شونده هيڅ، عزت ئې هيڅ مال او دولت هيڅ
زحمت هيڅ، محنت ئې هيڅ، نيان او ذلت هيڅ

٥٠- وخت آخره زمانه قيامت نژدی دی
د محشر د ګير دار ساعت نژدی دی

٥١- د نيا مال پايښت نه لري هيچا ته
ګوره ونه کړې اميد نن او سبا ته

٥٢- دا خبرې په پيرو پيرو قرنونو
خلک اورې چپ د زړونو په غوږونو

٥٣- پرون ناست و دا کيسه ئې اورېدله
نن هم ناست دی هم به ناست وي تل تر تله

٥٤- زه هم وایم دغه زوړ داستان رښتیا دی
څکه دغه کوم جهان چې د ملا دی

٥٥- دا دنیا چې د حاکم ده د سردار ده
د بادار ده، د سرکار ده، د فرماندار ده

٥٦- دا دنیا کنډو، کنډو آخر ورانیږي
بل جهان د بل انسان به ترې جوړیږي

ازلي گناهگار

٥٧- هلته دوري پاس په پوله یو ځوان ښکاري
کوټوالي ورسره په لاریې روان ښکاري

٥٨- په وهلو، ټکولو، ټیل وهلو
سینده! ستا تر څنگ ځوان په لاره تللو

٥٩- دی پرون هم زغلیده نن هم زغلیږي
دی پرون وهل کیده، نن وهل کیږي

٦٠- ستا جهان ثابت جهان دی بې تغیره
بې انصافه، بې وجدانه، بې ضمیره

۶۱ - ګناهګار تل ګناهګار وي تر قيامته
دعذاب ملکه تل پرې مسلطه

۶۲ - کله اورم چېنې خلک بيا دروغ وای
چې دنيا په يو حال نه ده اونه پای

۶۳ - مظلومان له په قهر يږي انقلاب کړي
دظالمو، مستبدو سره حساب کړي

۶۴ - دا قول دروغ دي داخطا ده قول هرزان دي
ستا جهان بل شان جهان ثابت جهان دی

۶۵ - تل ثابت دي، تل ساکن دي په يو حال دي
بې تغيره، بې تبديله، بې زوال دي

دخدای سيلاب

۶۶ - د پروون په شان دا اوس هم ستا پغاره
دهيواد کچنيان لوبيږي همواره

۶۷ - په پښتو بخلي شکو کړي دا ننګونه
دمرغو په شان وهي وزر خا ننګونه

۶۸ - يوه ورځ چنې سانيولي ببر سرې
سورکميس، څيرې ګريوان ستر کې چغوي

٦٩ - خاندي خاندي په موره باندې پاسه
په ځان شګې بادوي په دواړه لاسه

٧٠ - جواب نه وائي چې هر څو ترې نه سوال کړم
خاندي، خاندي چې پوښتنه د احوال کړم

٧١ - دا خندا نه ده طوفان که سیلاب دی
لوی محشر دی، زلزله ده انقلاب دی

٧٢ - پاس آسمان کې موکل ملک حیران دی
هلته ناست دی پټ د ځان سرګوبان دی

٧٣ - ما خو دلته خندانه وه پیدا کړې
دا د کومه ده راغلې چا راوړې؟؟

٧٤ اې وړې جینۍ ته څرنګ یې خندانه
په رښتیا چې ته وره یې ته نا دانه

٧٥ - ولې؟ خاندې ای دلبرې بس که بس که!
خدای ته ګوره د زړه سرې بس که بس که!

٧٦ - خبر نه یې ستا وطن دی د غم جاله
یو قهار حاکم همیش پرې ناست بدحاله

٧٧ - دا ستا ملک د غضب ملک دی پریشانه
ستا د ملک خاوند قاتلان دوکی دی بیشانه

---

۷۸ - ای زما د ننګ دریابه داسیلاب دی
داخندا نه ده طوفان دی انقلاب دی

۷۹ - نه لاهوشوم ستاچې شوې په ما تیرې
انسانې د سیاست شوې ړانه هیرې

۸۰ - داخندا عجیبه راز دي تفسیر غواړي
داخندا پریشان خوب دی تعبیر غواړي

....

دریاب

۸۱ - زړه مې د پامیر له هسک سواده
د پریانو د دیوانو له هیواده

۸۲ - داستانونه د مرګ شوندا سرې وادي
هم د ننه، هم د بیرون د هرزماں دي

۸۳ - زه یې وړمه تل تر تله په دا لوري
سمندر کې ډوبومه هلته دوري

۸۴ - داخندا خوب او خیال نه دی حقیقت دی
داخندا ساده پیغام د طبیعت دی

۸۵ - داچې ترزما بهیر کې دوام وینې
دې جهان کې ابدي شان قوام وینې

۸۶ ـ د غه خوب دې تعبیر غواړي د زړه سره
د غه خیال دې افسانه ده سوا سره

۸۷ ـ نه لې وړمه تل ترتله په دا لوري
سمندر کې ډوبو مه هلته دوري

۸۸ ـ دا خندا زما خندا پر ما خندا ده
مسخره ستا د خوبونو په دنیا ده

۸۹ ـ دا خندا ده بس یوا ځې یوه خندا ده
د جهان او د شوندون همدا معنی ده

لاروی

۹۰ ـ ای شما د زړه دریابدلته وایه
ستا په غاړه یو انسان پروت بې ځایه

۹۱ ـ په دې سیمه کې میشته له ډیره وخته
پرتن لوخ په کیلوه وړی تل بدبخته

۹۲ ـ په دې وړی تشه کیده ناتوانه
سنخ ویده دې کړي خوبونه پریشانه

۹۳ ـ دا انسان خو شان انسان خه لې لا حت دی
دا خوبونه تعبیر غواړي لوی زحمت دی

٩٤ - ما ملکونه هیوادونه وین لیدلي
هنګامې د انقلاب مې اورېدلي

٩٥ - هلته دورې چې د دنیا بیا رڼا کیږي
آیا چې لمر ځي سمندر کې پناکیږي

٩٦ - هلته شور دی غلغلې دي کوم طوفان دی
یو جاکړ تر بې هیبت ناکه روان دي

٩٧ - دا طوفان شي لوی لوی غرونه لړزولای
شي سیندونه، دریابونه وچولای

٩٨ - هم داور په شان لمبې کوي سیزل کړي
هم ګرداب دی سنګته، سنګته ډوبول کړي

٩٩ - لا روان دغه سیلاب دی پدې لوري
غړهار یې هها اوس اورم له دورې

١٠٠ - دا انسان چې دلته پروت دی د ستا پیغاره
خبر نه دی له سیلابه کور ویجاړه

١٠١ - رحم ورحم ورته به غږ کړم چې بیدار شي
د عالم له نیته او پاسه خبردار شي

١٠٢ - یا به دی آخر خبر شي له خپل ځانه
یا به ما هم ځان سره ورک کړي له جهانه

دریاب

۱۰۳- ویل کیږي که ترخې، ترخې خبرې
یا خبرې وي خوږې لکه شکرې

۱۰۴- خو بیا هم خوشې خبرې دي خبرې
افسانې خوشې قیصې دي او منترې

۱۰۵- انقلاب نه هم کیسه داستان جوړیږي
مخلوقات پدې کیسو باندې بدلیږي

۱۰۶- که د بل جهان ماڼان او لوړمان دي
روزل شوي په تنها دکې د انسان دي

۱۰۷- لاشعور له ترکمو راپورته کیږي
داستانونه افسانې تربینه جوړیږي

۱۰۸- زه ئې راوړم د هسکو غرو له رمز آباده
دریابونو د دیوانو له هیواده

۱۰۹- بیائې وړمه تل ترتله په دا لوري
سمندر کې ډوبومه هلته دوري

جنتیان او دوزخیان

۱۱۰- دې هیوا د زور دوړانونه ویر لیدلي
داستانونه یې بیشماره اوریدلي

۱۱۱- له لښکې نه عجیبه خلک راغلي
پدې غاړه خپاره شوي پورته تللي

۱۱۲- دوی راوړل رسالتونه درمندونه
په ښاخو ښاخو شیندل دوی پیغامونه

۱۱۳- په دره، په سردرو، باندو دیروکې
هم په غرو رغو، په کلو هدیروکې

۱۱٤- پیغامونه مفت وړیا ویشل کیدل تل
خو کندوان به هم دخلکو تشیدل تل

۱۱٥- د دې سترو پیغامو ډکر ته تللي
ویرچړکانو خپل سرونه دي بایللي

۱۱٦- ویرغوایانو خپل ځانونه قتلان کړي
ویرپسانو خپلې غوښې قربان کړي

۱۱۷- سپین ځادري اوږدږیري ملایانو
داغټ خیټي او غټ پکي جنتیان وو

۱۱۸ هم پې مخې طالبان لکه غلمان وو
ډلې ډلې به په دوی پسې رawan وو

۱۱۹ وعظ نصیحت امر معروف ؤ په کمبختو
گمراهان به سمېدل په سمو لختو

۱۲۰- بیا به لوی لوی ډلې وې د چمنو
تا به وی لکه سیلونه د چمچمنو

۱۲۱- په فصلونو درمندو به شو ورخوشې
ټولول به یئې غنم، جوار، اوربشې

د عذاب پریښتې

****

۱۲۲- یو وخت راغی ما پیدا لوی پیران شول
د اعجاز د کراماتو خاوندان شول

۱۲۳- ورمعلوم ډېر ډېر رمزونه پټ پنهان وو
پیغامونه ورسره د بل جهان وو

۱۲۴- په آسونو به سپاره وو پادشاهان وو
مریدان لښکر، لښکر پسې روان وو

۱۲۵- د ذکرونو، تکبیرونو غږهار وو
د حلوا د پولاونو خوان تیار وو

١٢٦- ساز سرود، مینه مستي لوی یه ګناه وه
هم حرام وه خندا وه که ښځا وه

١٢٧- بیا به ځني ځني خلک ګمراهان شول
ځني نور به لا بد تره کافران شول

١٢٨- د کافرو دې د ینو مرګ سوا شو
د ګمراهو کور به وران مال به تالا شو

١٢٩- د اپیران، خدمتګاران لوی د محشر وو
د عذاب د ملایکو اشرګر وو

١٣٠- ګمراهانو پدې شوند عذاب لیدلو
د عذاب د پرښتو باسکیدلو

یوداستان (۱)

«سمندر» د ملبې غیږکې

١٣١- ګوره ګوره ماخولته پدې لوري
کنه والي کنه سرې ښکاري هلته دوري

١٣٢- دغه ځای یوه قلا کوره د ښګر و
یوه ئې ښځه دیر کوچنیان خاوري پسر و

(۱) والي: «سمندر» داسې یو افسانوي موجود دی چې په اورکې ژوند کوي او له خپلو ایرو بیا پیدا کیږي.

۱۳۳- د ووړي کمه، نه مکه کمه حاصل کم و
دوړو د وبنې کيدې و رسره غم و

۱۳٤- يو صفت بد پيدا کړي دې انسان و
يو عادت بد اخيستلى دې د هقان و

۱۳۵- د لوى پير مسلم حق سودائي نه کړه
د لنگر د شکرانې پروا لې نه کړه

۱۳٦- پير ترې نه وروسې دانې نه چرگ چرگوړي
نه هگۍ بچې او مې، نه کې سيسوړي

۱۳۷- پير خپه و مريدان ورته په قار و
هلته ناست د کوم فرصت په انتظار و

۱۳۸- داسې خوار لې مشهور کړو هرې خوا ته
چې ممسك دى، وهابې دى دا بد ذاته

۱۳۹- مريدانو پسې نوره کړه لا نه يا ته
چې خالي نه دى سرې له هر پساته

۱٤۰- داسې خوار لې مشهور کړو چې بدکار دى
لوى مفسد دى، هم سودخوره زناکار دى

۱٤۱- ترڅو تول د سيمې خلك شو لو بيزاره
گوابنيدل تول خو تکيدل ورته له قاره

۱٤۲- بله ورځ، ورځ دجمعې مياشت دبرات وه
دتمام وکړو غونډه په جمات وه

١٤٣ چې لمونځ خلاص شو یو ناځاپه دربهار شو
دذکرونو، تکبیرونو غوږها رشو

-١٤٤ مریدانو لښکر وکړه دیوسره
لاسهل تاؤ شو ل له قلانه نا ببره

-١٤٥ مریدان لکه پړانګان هدف ئې ښکاروؤ
دذکرونو، تکبیرونو غږها روؤ

-١٤٦ چې کتل خلکو په دې طرف ټولورته
یو ناځاپه له قلا شوې لمبې پورته

-١٤٧ لګینیان، ښځه وو په دغه ورځ وتلي
چرته تللي، پناه شوي تښتید لي

-١٤٨ خو بزګرغریب په دغه ورځ بیار وؤ
پروت په کټ کې ناتوانه هغه خوار وؤ

-١٤٩ هلته پروت وُ بې درمله بې درمانه
خو ځیدې له ځایه نه شو ناتوانه

-١٥٠ خو له ځانه خبر یده شیبې وې تیرې
سرې لمبې داورلمبې شوې ترې چاپیرې

-١٥١ دی له پاڅیده له کټه هک حیران شو
هلته وو درید خوار تاؤ ترې سورلمبان شو

١٥٢ مخلوقات ئې وُلاړ غلي تماشې ته
دی ولاړ وُ هې کتل ئې سرې لمبې ته

١٥٣- د لمبې عجب رفتار و تلله
ها بزګر ته په غرو، غرو ور تلله

١٥٤- شین زړوکی ئې په سر د لوګي شین و
سره لمنه، سره خولګۍ، تندی ئې سپین و

١٥٥- لمبه لاړله خپره دده په پښو شوه
بیا پښې ئې دده ښکل کړې په زاړ شوه

١٥٦- بیا لمبه شوه په غرو ور پورته
شین پوړنی په ده خپور کړو دده لورته

١٥٧- ورته غاړه په غړېده شوه دا مجنون نه
ترې چاپېر شوو د لمبې سره مړوندونه

١٥٨- بیا د شین لوګي د شنه زړوکي لاندې
سرې لمبې ده ته خوله ورکړه وراندې وراندې

١٥٩- سره خولګۍ تو ده خولګۍ وه ګرمه ګرمه
پاکه پاکه ښه ځلانده نرمه نرمه

١٦٠ مخلوقاتو تماشه کړه سور نیران و
ده د خلکو تماشه کړه هک حیران و

١٦١- بیا شو ښکته د لمبې په غېږ کې پریوت
د نا آشنا سوز و ګداز په دردو کیوت

١٦٢- دا د مهر او مینې تږی نا قراره
د لمبې په غېږ کې واوښت خوشحواره

١٦٣- تر څو خاورې شوا يرې شو نو آرام شو
يو داستان د ژوند او مرګ هسې تمام شو

١٦٤- مريدانو ووی: تو بې خلکو تو بې کړی
عبرت واخلئ! د صلوات جګې نارې کړی

١٦٥- د سود خوړو پېړۍ تللو دا پايان شي
د دوږخ اور کې ستې پدې جهان شي

١٦٦- لاړ و يره! پوه شوې څوك دغه بزګر و؟
يو موجود افسانوي و سمندر و

١٦٧- اوړ کې ژوند کړي، ښ وندلې اور دی
سر کو لتی سره ګلان باغ لې سمسور دی

١٦٨ معشوقه ئې سره لمبه ۀ که له نازه
دفنا او د مرګي نږدی بې نيازه

١٦٩- د دې ښنې زمکې بچي دي نافرمانه
له دې ښنې زمکې سازيږي جاودانه

١٧٠- خاورې کېږي، ايرې کېږي څو ځله
له ايرو ړه پورته کېږي بيا هر کله

١٧١- بيا ګل کړي بياړ بېل کړي تل ترتله
ابدي سندره وائې خوښه خپله

نوي پیامبران

١٧٢- په دې غاړه وشن پرون نور څوك رواوو
دين باد ده تنكيا لي ځلمي ځوانان وو

١٧٣- سبوڅل لې سر ځلاندە بيرغونه
ور سره وو شعارونه ، پيغامونه

١٧٤- وې : مونږ خلك يو، خلك زمونږ دي اعتبار كړه
مونږ له غلي دكاركړو انقلاب كړو

١٧٥- د ا ځوانان ځلمي خپاره چې پدې خواشول
تمې تمې امیدونه راپیدا شول

١٧٦- خلكو ويلې : دوى باد ده پوځوانان دي
پيغامونه لې هم ځوان د بل دوران دي

١٧٧- نور بنتيا به شور ماشوركه دخوالنه كړي
بت خانې به سوڅكې رنګې پخوالنه كړي

١٧٨- دې ځوانانو سره نوي مشان الفاظ وو
بې شماره شعارونه په بل راز وو

۱۷۹- خو بيا هم نړۍ سندرې دوی ويلې
هم هغه نړۍ خبر يې لئ ويلې

۱۸۰- پر ښتيا چې دې ځلموظاهرځوانانو
څه پېښې تقليد کاوه دانسانانو

۱۸۱- دغه ځوان لکه طوطي غوندې ګويان وُ
منه ښا يُسته نګين الفاظ دده بيان وُ

۱۸۲- الفاظ نوي خو معنیٰ هيڅ پکې نه وه
اشکال نوي محتوا هيڅ په کې نه وه

۱۸۳- دوی وی: هرڅه نوي نوي اوس راوړو نن
په نړۍ وعنعنوځان نه خبرو و مونږ

۱۸٤- ماوئيلې: ای بې فکره! لجې شعوره
ای دعقل وسرېتوب دښمن تربوره

۱۸۵- په نړۍ وکيسوچې نشي پوهيدلای
نو دنړۍ نوي توپير نشي کولای

۱۸٦- نو داځکه دطوطي پشان ګنيا يې
نړۍ بيان کړې نوي نوي ورته وائې

۱۸۷- ته خو وائې: دپيشرفت دښمن دهقان دی
دکارګرو انقلاب رښتيا عصيان دی

۱۸۸- دپېرون واعظ خو هم داشان نظر وُ
دا بزګرجاهل بزګر دين ته خطر وُ

١٨٩- دې سرې ته پرولي واعظ ويلې:
ته ناپوهه ، ته امي يې ، ته جاهلې

١٩٠- د امام بيان قبول کړه مسلمان شه
څه په پښتو ستر کو ما پسې روان شه

١٩١- نننی واعظ اوس وائي : ورک ايسته!
مرتجع ايديالسته ، فيو دالسته!

١٩٢- دوی هم وائي چې استاد هسې ويلي:
ما پخپله په کتاب کې دي ليدلي

١٩٣- په واقع کې د اخوانانو بچيان وو
مقلد آخوندانو د ځان حاکمانو د ځان وو

١٩٤- مېکه کوم وخت چې د دوی لاس په خلکو برې شي
کنډوالان شته ، خسپې شوي څيرې حال بدتر شو

سرتور ملنګ

۱۹۵- دې ځوانانو شا و خوا کتلي نه وو
هم هیڅ چا ورته هرګز ویلي نه وو

۱۹۶- چې د عقل نور حکیم سرتور ملنګ شته
لا ژوندی دی، لا د جهل سره جنګ شته

۱۹۷- دا خو هغه لوی حکیم لوی قلندر دی
چې ظالم لکه چنګیز ترې دربدر دی

۱۹۸- د هتلر خونخوار منګلو کې ور پرېوت
ترې لا خلاص شو خو په بله بلا کېوت

۱۹۹- د ستالین توره بلا شوه مسلطه
جیلخانو تور زندانونو ته شو ورښکته

۲۰۰- هم د دې بلا له چنګکه بیا راستون شو
آزادي پسې روان بیا دا مجنون شو

۲۰۱ تسلیم نشو استبداد زور او ستم ته
معشوقې پسې کوزېږي جهنم ته

۲۰۲- که شاهان، که سرداران شاهنشاهان شته
که واړه لوی هتلران شته ستالیناڼ شته

۲۰۳- د دې وارو یو دښمن دی یو غلیم دی
بس یواځې دا د عقل لوی حکیم دی

۲۰۴- تل د عقل له قدرته په عذاب کې
شپې خوبونه پریشانه اضطراب کې

۲۰۵- دې ځوانانو خوشپې نه وي موندلی
چې نړې خبرې واورې بیا یو ځلي

۲۰۶- زوړ حکیم وی: په ځلمي که ځلمیتوب وي
د سرې د ځیرې شانه سرې توب وي

۲۰۷- په کوم ځای کې چې انسان انسانیت وي
سوز جذبې وي، آزادي وي حقیقت وي

۲۰۸- نو بیا هلته د تقلید احتیاج نه وي
د ځیرو پیښو کاسکیټ، پټکی تاج نه وي

۲۰۹- په بل ځای کې یو قدرت شو لوړ پورته (۱)
هنګامې لې اوریدلې تا سره لوړ نه

۲۱۰- دې قدرت آبادې هسکې ودانه کړې
بغاوې لې رنګې پخوا لخه کړې

۲۱۱ دا قدرت انقلابي عقل تنقید وُ،
دیو نوي شروندانه اساس تمهید وُ

---

(۱) اشاره مارکسیزم ته

۲۱۲- په درانه خوب ویده يې کړه بیداره
داوهامو ليونتوب يې کړه په لاره

۲۱۳- چې بيا راغی دلته راغی شو ذ ليله
څوالی نقل تقلید شو لجب دلیله

۲۱٤- نوی نوی بت خانې راسان وې اوس
نوي عنت بتان يې منځ کې دروي اوس

۲۱۵- په بل ځای کې پلټنه وي پرسان وي
په فکري مسلمانو کې ایمان وي

۲۱۶- پدې ځای کې تعصب شو عقیده شو
روح بیدار نشوه بېرته بیا بیده شوه

۲۱۷- وای نارو او لیاء پرین دی د زیارت ځلي
نوي، نوي اولیاء دي اوس راغلي

۲۱۸- خاوندان د کراماتو داعجاز دی
کتابونه نازل شوي په بل راز دي

۲۱۹- په اخلاص په پټو ستر ګو غاښ کین ي
سجدې وکړي ایمان راوړ تپوپرین

۲۲۰- له زر دشته، له بودا، له برهمنه
په بېرېو له پروړنه لا تر ننه

۲۲۱- دغیبي الهام خاوند دعوه داسانو
دبې خدایه، دبې دینه سوالونو

٢٢٢- د بې شماره رسالت ستر خاوندانو
ده هغو پيشوايانو ، رهبرانو

٢٢٣- دا استاځي چې راځي ځي تل تر تله
دلته يوه سندره وائي ، يوه بدله

٢٢٤- په اخلاص په پټو سترګو غاړه کيږدي
ايمان راوړي سجدې وکړي تپوس پريږدي

٢٢٥- دا کيسې وې او کيسې دي افسانې دي
ځنې هيرې ، ځنې يادې ترانې دي

زه يې له ځانه سره وړمه پدې لوري
٢٢٦- سمندر کې ډوبومه هلته دوري

د زړه دریاب

۲۲۷- لاړ ویم ! زه خو ستا د زړه دریاب یم
ستا د زړه په شان ناارامه ناپایاب یم

۲۲۸- ما ته ګوره زه آزاد یم زه مختار یم
هر خوا ځم کله په لار کله بې لار یم

۲۲۹- پدې خپل پراخ بستر کې پروت تللم
نن هم هر طرف ته رغړم زغلم زغلم

۲۳۰- کوټې خونې، بانډې کلي رنګومه
پټي، زمکې، ویالې پولې ورانومه

۲۳۱- دا انسان ما ته ناري کړي پرې افت دی
دا زما آزادي ده ته اسارت دی

۲۳۲- دې انسان خو هنګامې دې تیرې کړي
انساني لې اوریدلې، هیرې کړي

۲۳۳- سیلابونه پرې راغلي تړې به تیر شي
بیا به راشي، بیا به لاړ شي بیا به هیر شي

۲۳۴- تر څو پوه په علت نشي د رڅونو
د ربنتیني انقلاب په لوی رمزونو

٢٣٥ دی به داشانتې بندي د خپل زندان وي
کند و تش، کچنیان و ښي کوربه وران وي

-٢٣٦ بم د عقل په لاس ورکړه وره زده چل کړه
د تنقید شک او تردید اور ور تربل کړه

-٢٣٧ تنفر او انزجار ورته بیان کړه
د غضب، قهر احساس ورته عیان کړه

-٢٣٨ دا احساس قوي احساس بدلون راوړشي
دا قدرت دننه پرون بت ماتوی شي

-٢٣٩ ورته وایه: له خپل ځانه نفرت وکړه
له خپل ژوندهٔ منزجر شه همت وکړه

-٢٤٠ د غضب په اور ایرې کړه رنګې رنګې
د قدرت او اقتدار بت خالې تنګې

-٢٤١ نو به هله ته سړی شې ته انسان شې
آزادۍ د لوی منزل په لور روان شې

٢٤٢ لا رویږه! نه خو ستا د زړه دریاب یم
ستا د زړه پریشان نالمه ناپایاب یم

-٢٤٣ آزاد نه غلم، آزاد رغوم خپل وطن کې
کله کوبځم کله سم د غرو لمن کې

-٢٤٤ څو د دې بزګر بچی پوه په کار نشي
راپانځي، پا ویښ نشي، په قرار نشي

٢٤٥- اوربل نکړي د دې دښتې په اغزو کې
ستي نه کړي لړمان، ماران لمبو کې

٢٤٦- راواخلي بيا کلنګ، بيل او تښکوره
قلبه نه کړي د دې ملک زمکه په زوره

٢٤٧- د ذهنو نو شړاګو نه آباد نه کړي
په باغونو په ګلونو زړه ښاد نه کړي

٢٤٨- د آزاد، آزاد فکرو نو نوو نوو
د تازه فکري تخمونو نوو نوو

٢٤٩- کښت و نه کړي له سهاره تر ماښامه
کر و نه کړي ډير کلونه شا مدامه

٢٥٠- داسړی به په قربونو انسان نه شي
هيڅ آزاد به له خپل بند او زندانشي

٢٥١- زه به تل ځم راځم له هسک سواده
د پريانو د ديوانو له هيواده

٢٥٢- داستانونه به زما موج کې روان وي
هم د نن، هم د پرون د هر زمان وي

٢٥٣- زه به ځي ومه تل تر تله په دا لورې
سمندر کې ډوبومه هلته دورې

د ملي ځوان مجاهد څوارلسمه

دیوي افغاني مور

پیغام

دافغانستان دبین المللي پیوستون دورځې په مناسبت
دمارچ (۲۱) کال ۱۹۸۲

د افغانستان په تولنه کې د شوروي قدرت په مقابل کې د جهاد او ملي قیام له کبله ځنې ژور بدلونونه راغلي دي. "د مور پیغام" پدې منظومه کې ددې بدلونونو دا لاندې اهم اړخونه منعکس شوي دي:

د جهاد او ملي آزادۍ جنګ د خاصو شرائطو په نظر کې:

۱- دیني عقیده نوره هم سپیڅلې کیږي او نهایات قوت مومي. مثلاً، دکلي ملا دخلکو حقیقي روحاني رهبر کیږي، یو داړه - مار غل خپل ځان او مال جهاد ته وقف کوي او پدې شان دخلکو په نزد قدر او منزلت پیدا کوي او کله چې دکلي یو زوړ سپین ږیری خپله دجهاد فریضه ادا کوي، نو د حضرت ابراهیم علیه السلام قرباني را په یا دوي.

۲- د عنعنوي زعامت په ځای، د خلکو له منځه یو نوی لیډرشپ د راوتلو په حال کې لیدل کیږي، مثلاً یو بیکسه اهنګر د قبیلوي خان ځای نیسي، او د کلي یو خوار چوپان (غوبه) څخه ملي قهرمان جوړیږي.

۳- ملي شعور په خلکو کې راویښیږي، مثلاً د آزادۍ د جنګ په دوران کې، حتیٰ دیوې ساده، بې سواده ښځې عواطف ورو، ورو دفردي او محلي نیمګړي احساس له سولې څخه جګیږي او د هغه څخه په ساده او طبعي توګه یو کلک او بشپړ ملي احساس جوړیږي. پدې منظومه کې

د خالص واقعبینانه «ریالیستی» روش څخه کار اخیستل شویدی.
هیڅ کوم خیال پردازي، رومانتیکي احساساتي مبالغې
تش رنګین الفاظ، وعظ، نصیحت، تلقین تبلیغ او یا د
لیکونکی خپل فردي احساس یا شخصي نظریات او تمایلات
پرکې ندي ځای شوي، بلکه فقط دیوکلي د یوې ساده او
بیسواده پښتنې کونډې میرمنې له خولې څخه هغه څه بیان شوي
دي چې دافغانستان پر او سنۍ بحراني ټولنه کې خوواره
هرهرځای پیښ شوي او اوس هم پیښیږي. او دا
ځکه چې د جهاد په معمولي او عادي پیښوکې د ملّي آزادۍ
جنګ په روزمره کوچنیو او ساده واقعیتونوکې داسې لوی
او ژور پیغام پروت دی چې د خپل بیان د پاره د کوم بلاغت
او فصاحت قوت ته، کوم ایډ ولوژیکي تعبیر او تفسیر ته،
او کوم انقلابي تش بیان او لفاظۍ ته ضرورت نه لري.
د جهاد د ساده واقعیتونو ساده بیان پخپله انقلابي
بیان دی.

یو پښتنې مور چېل مجاهد ځوي ته دا پېغام

د جهاد سنګر ته لېږلی دی

۱- ګرانه ځويه ! رستم خانه ! مور دې ځار شه !
سنه دې چار شه ! دشت صحرا در ته ګلزار شه !

۲- زه دې پر ېېښو دم يوازې اوس چې ځوان شوې
د جهاد سنګر ته لاړلې روان شوې

۳- د طالع ستوري دې غوا ړمه ځلانده
مل دې خدای شه چې دنيا ئې په فرمان ده

د آدم خان مرګ

٤- ستا ياد يې نه مانه ده ډېره تېره
خوبه ما نه به هيڅکله نه شي هېره

۵- ډېر ورکوتی ، خبره وې له جهان ته
په خاپوړو وې قدم قدم روان ته

٦- څه موده وه پلار دې تللی په سفر وُ
زه او ته په کوټې ناست حال موابتر وُ

٧- زه او ته یواځې ناست وو په دے شله
ستا د پلار دے تنګ لاسې مې څاسے لـه

٨- ته ووړوکی وې د لوبو سره دې سر و ،
هم خاپوړې دې کولې ما نه یکرو

٩- چې ناڅاپه په درشل باندې نسکور شوې
په ژړا په واویلا په شور ما شور شوې

١٠- سبه مې یاد شي تا ژړلې ما نه یکروُ
ستا په خاورو لوغیدلی سپیره سروُ

١١- ماے پورته کړې په غیږ کې زنګولې
په خبرو په خندا مې چپولې ،

١٢- چې ناڅاپه یو چاغږ وکړ له پورې
"ځنازه کلي ته راغله خلکو ګورئ"

١٣- ټول ورو وتو بهرته زیړی لمروُ ،
تا زړلې نه ما غیږ کې ماز یګروُ ،

١٤- ځنازه کلي ته ورو ورو ورسوانه
زړه مې ټوپ کړو په سینه کې ناګهانه

١٥- ځنازه نه وه چې راغله لوی کړنګ وُ
په کټ پروت یو شاځلمی په وینو رنګ وُ

١٦- چاوی: "دا خو آدم خان بیرته راغلے!
ځوان میړه د درخانۍ دی چا وژلے" !

١٧- داستا پلار ځې چې لې بیا غوره بیلتون کړو
دمرګي دا کوله لاړې بیرته ستون کړو

ډروند قصّه

١٨- له واده نه ما تیر وو څو کلونه
چې اختر راغی په ما سره بیلتون نه

١٩- سبه مې یاد شي اختر راغی مونږ خندلی
ستا د پلار جامې ما پاکې وې وینځلی

٢٠- ما هم خپل کمیس رنګ کړی په رنګ ریزو
سنبال کړی مې خپل ځان ښنر په مکینو

٢١- اختر راغی خوشالي وې خندا کالې
نجونه سیند غاړې میلې ته شوې رواني

٢٢- دا اختر ما د ډروند د سیند په غاړو
بیا راغی، یو وار راغی بیرته لاړو

٢٣- داختر په سبا پلار دې په سفر لاړ
په ناشنا بیګانه لارو د خطر لاړ

٢٤- په ملکو نو یو ځای بل ځای نه غلیدلو
غریبي خوارې لې کړه له کوځیدلو

۲۵- چې لې ښاره په پردي ملك کې تنګ پرېشان شو
نورا ستون شو خپل وطن ته راسروان شو

۲۶- په ښاکرې څه سوغات مال او کالي وو
څه پيسې لږې په جيب کې لاس خالي وو

۲۷- داره مار لوی جلاد خان دا کوپه لار کې
چرته پټ وغلی ناست ورته په ښارکې

۲۸- ستاځلمی پلار دې شهيد کړو ناګهانه
مال سوغات يوړ جلاد ظالم بيمانه

ګرانه ځویه!

۲۹- دکونډه‌تون شو وندون وړو ګرانو
تربوړن سړي خواره وږي لیوانو

۳۰- خدای تېرې نه همیش ساتلم په امان کې
هېرې سختۍ مې ګاللې دې جهان کې

۳۱- تاته ناسته وم چې تا به خدای را لوی کړي
جانشین به د خپل پلار شا ځلمی زوی کړي

۳۲- توبه نه شم آخر خلاصه له تهمته
له زحمته، د لیوانو له آفته!

۳۳- بیا چې ته کله را لوی شوی دا دې حال و
ستا سره یوه سودا یو فکر خیال و،

۳۴- تا به ویلې: "جلاد خان نه ماغلیم دی
د خپل پلار خون به کړم دا مې تصمیم دی"

۳۵- جلاد خان ته خو دا ټول اولس په قار و
چې خونکار و داړه مار تل په فرار و

۳۶- چې را لوی شوی ته کټ مټ د پلار پشان شوې
آسنه د ننګ شاځلمی ښایسته ځوان شوې

٣٧- ښکلو ځوانو زړونه تا باندې بایلل تل
ستا په لوري د ښو لاندې کتل تل

٣٨- نه ځلمي وې شا ځلمي وې حیا ناکه
غیرتي وې ایماندار له ګناه پاکه

٣٩- د سپین ږیرو مشرانو کړو عزت تا
دیار انو سره اخلاص او محبت تا

٤٠- خپله مور دې هم ساتله تل خوشاله
په خبرو، په خندا، د زړه په خواله

ناآشنا سیلاب

ګرانه ځویه!

٤١- ستا په یادشي چې یوه ورځ بیا مازیګر وُ
دوا ړه ناست وپه کاله کې زیړلمر وُ

٤٢- چې په کلي کې ناپه شور ما شور شو
کوم ناآشنا جګړه پدې سیمه راخپور شو

٤٣- ترو لاړه شولې بیا دې توپ کړو په یو ځله
په درشل کې دې پښه بیا و ښتله ځه

٤٤- بیا نن دې وچې په زمکه راګذار شي
پېژړا بیا په درشل باندې په قار شي

٤٥- ما ترسنا دکوچنې توب ورځ راپه یاد شوه
چې د ښوونځي دیوه مې مړه شوله برباد شوه

٤٦- تر ورکوټي نه ماخواته لو بیدلې
یو قدم نیم ما خوا دې خوا نو لیدلې

٤٧- مازیګر و په درشل باندې ښکور شوي
په ژړا په واویلا په شور ماشور شوي

٤٨- پدې سیمه بیا راغلی کوم محشر و
نامعلومه هنګامه وه شور او شر و

٤٩- یو ځل بیا کوم مصیبت په کلي ګډ و
څه بلا کوم تور آفت په کلي ګډ و

٥٠- تر روان شوې نه هم تا پسې روانه
زړه مې بیا سینه کې توپ کړو ناګهانه

٥١- زه او تر کلي تر لاړو مازیګر و
شور او شر و راننه دی کوم لوی خطر و

٥٢- خلکو ویلې: "د کفارو لښکر راغی
روسان راغلل، لوی فساد راغی شر راغی"

٥٣- د توپونو د ټانکونو غرهار هم
مونږ له دوری اوریدلو په بار بار هم

۵٤- داجاګړ سترے روان ؤ هيبت ناکه
نا آشنا سيلاب بې باکه غضبناکه

۵۵- مازيګر ؤ ته راستون شوې بېرته کورته
دخپل پلار لنډې توپک دې کړو را پورته

۵۶- تاوی: "مورې خدای دې مل شه خدای پامان او س
کفارے غلل زه جهاد ته شوم روان اوس

دکلي شروند

ګرانه خويه!

۵۷- ته خو دورې کوم سنګر کې دجهاد ناست
دځوانانو د يارانو سره زړه مې بناد ناست

۵۸- زه دې پس يېنودم يوا ځې په تور تم کې
دد وهم بيلتون په غم په لوی ماتم کې

۵۹- څه موده وم ستا په غم کې دو به ناسته
نه مې خوب ، نه مې خوراک ؤ نه مې ملا سته

۶۰- خو دا اوس اوس تول غمونه را نه هېر دي
د کاونډ ښځې هميش را نه ـپا پير دي

٦١- هره شپه مونږه دکلي سنځې نجونه
دوړی ګاڼې پخوو ړک، ړک شکرونه

٦٢- بیا په خوږ د سهار لې پټ پټ ورومونږ
په سنګرکې ئې ز لموتر رسوو مونږ

٦٣- چې دلمر ستر که راوخیژي سهار کې
له بموتوچرته پټې شو په غار کې

٦٤- داستوګنې ویرې سمځې دي په غرو کې
بنائیسته رلې چینې شته په درو کې

٦٥- کله چپه چپیانۍ هرڅه قلار شي
بیا ناڅا په دتوپو توغرهار شي

٦٦- بخونه کله وارخطا شي په ژړا شي
بیا په جنګ آوانه خندا کړي بې پروا شي

٦٧- کله چپ دچا په یاد زلفې پریشانې
بیا دعشق سندرې وائې دهستانې

جلادخان ډاکو

ګرانه ځویه !

۶۸- زړه مې ډک دی قیصې ډیرې دي بیشانه
هرڅه بل شان، دنیا بل شان ده رووانه

۶۹- جلادخان ډاکو اوس هغه بدکاره نه دی
د پښتو په شان اوس داره مارنه دی

۷۰- خدای په تیغه لا رسم کړی مجاهد دی
خونړی د دښمن دهر کافر ملحد دی

۷۱- په لښکري صف کې ولاړ دی د جهاد تن
ایمانداره، پرهیزګاره، غل جلاد نن

۷۲- ډیر وسان جلاد ورشلي په اخلاص دي
ښې وسلې یې ترې راوړي پخپل لاس دي

۷۳- خلک وایي د جلاد ګناه بې باکې
د دښمن وینو مینځلې صافې پاکې

۷۴- بله ورځ د خپلې ډلې په منځ کې
زموږ کور ته په زاری راغی د شنه

٧٥- ماته ورته وېل، لاس پښې يې رپېدلې
د ماشوم په شان يې اوښکې بهېدلې

٧٦- ويلې: "خورې زه د خدای لوی ګناهګار يم
زه جاني يم، زه قاتل يم، زه خونکار يم"

٧٧- "که شهيد شوم په جهاد کې نو خبر يم
ځواب ګو به د خدای پاک په محشر يم"

٧٨- "شهادت که مې نصيب نه شو شرونده وم
دا وعده مې ده له خدای سره که سړی وم"

٧٩- "چې پخپله به ورځمه رستم خان ته
سر به ږدم د ده په مخکې ټول جهان ته"

٨٠- چې خپل ننګ غيرت په ځای کاندې راضي شي
د خپل پلار خون له نو اخلي ترې غازي شي

"شینا" غوبه

۸۱- آ، زمونږ دچم غوبه په نوم "شینا" اوس
لړګیني غوبنې نکړي د هیڅ اوس

۸۲- په شینا پسې مونږ ګرځو ما شیندارې
ډیر ځوانان ورتلو لاړ قطار قطارې

۸۳- اوس شینا وړته څوک نه وایي کابل شاړی
د شینا هوا بدله، قومانداني دی

۸۴- فرمانونه لې چلیږي په هر لوري
آوازه لې د میراني خپره دوري

۸۵- د ځوانانو سره راځي زمونږه کورته
شپه کړي تیره بیا ورځي د سنګر لورته

۸۶- بیا به شپې ورځې پراته دوي په سنګروي
په ځنګله په غرو رغو بیدیا بهروي

خان زرین خان

٨٧ د دې کلي مشر خان چې خان زرین و
مال جائیداد د خدای ورکړی آس ئې زین و

٨٨- هغه لاړه لو برباد شو لوړ سوا شو
کور ئې خلکو په اور وسو مال تالا شو

٨٩- قلاه لکه هر څه ټول ستي په اور شول
لوړ برجونه هسکه غاړه را نسکور شول

٩٠- خلک وائي: زرین خان د ښمنو ته ناست دی
د روسانو په فرمان په منډه زغاست دی

٩١- څه وریږونه پرچمیان زامن خلقیان دي
د روسانو وفاداره غلامان دي

نوروز آهنګر

٩٢- ستا به دا غلط ګمان شي زویه ګرانه
چې د کلي د عزت حجره شوه ورانه

٩٣- پیدا کړو خدای یو بل شان د حرمت ځای
د نوروز اهنګر حجره اوس د عزت ځای

٩٤- جوړ وي مات نۀ پکښې نوروز ځان اوس
کارتوسونه ډکوي په هرهر شان اوس

٩٥- د خدای پاک د ده په مال سنه نظر پام دی
چې ولاړ تل مجاهد ته لاس په نام دی

٩٦- مونږه ټول ورسره ولاړ یو تر خپل وسه
نور د کلي غریب نه دي نه بې کسه

٩٧- غوړي، غوړي ړوړې کالي ورکوي تل
چاق پښتان غټ غټ غوایان حلالوي تل

ټوړطالب

٩٨- ټوړطالب آ، پنج پیری ملا لا نور هم
مست مست ګرځي په دې سیمه په ګاونډ هم

٩٩- سرخړیلی، اوږده ږیره لې پرې ایښې
غټه پګړه لې هم پاس په کوپړۍ ایښې

١٠٠- د کوم بل ملک ږیرور غټ طالبان تل
ډلې، ډلې وې په ده پسې روان تل

۱۰۱- ځي راځي والئ جهاد ته يو را غلي
پته نشته کړي کار ونه غلي غلي

۱۰۲- کله يو وو هي هلته کله د لته
کله يو ته کافر والئ کله بل ته

....

محمد صادق ملا

۱۰۳- نارينه ملا دبرکلي استاذ دی
مولوی صادق رښتيا صادق سرباز دی

۱۰٤- خوب آوازچې د آذان پورته سهارکړي
په درو په سرد روکې ژوند بيدارکړي

۱۰۵- کاڼي بوتې الله والئ اکبر والئ
دخدای پاك ثناغو والئ کمروالئ

۱۰٦- دجهاد په لار ې خلك سموی تل
دايمان دعقيدت وعظ کوي تل

۱۰۷- په سنگرکې دغازيانو امامت کړي
دجهاد په لمړي صف کې حرکت کړي

سورګل معلّم

۱۰۸- ستا خو یاد شي د سورګـل معلم ګفتار ښه
چې به يې ستا سره کولو دارمـدا ر ښـه

۱۰۹- ببرسر، ږور ږند بريتونه ، ګرږه خوله
هم ګـرږه وږه و ينا بـه يې کـوله

۱۱۰- ده ويل : جهان به وران شي دی هم وران شو
دی پخپله سم په ورانه لار روان شو

۱۱۱- چې ګهار په وطن راغلل کـلي رنګ شول
ډېر ځوانان پاک شهيدان په وينو رنګ شول

۱۱۲- اولسونه مهاجر شو نور ملکو کې
شو بيشماره نور وراسته په زندانو کې

۱۱۳- سورګل بيا خلکو ته کړلو دا بيا ن هم
چې: "روسان زمونږه ورونه دوستان هم"

۱۱۴- خلك ټول ورته په قار وو هك حيران وو
په سورګل ناست ليوني شاني پيريان وو

۱۱۵- بيا يې پټ پټ شروع کړي عجب کار وُ
پټ خطونه يې ليکل داي سوزګار وُ

۱۱۶- دغازیانو حال احوال به بې غوندولو
بیار وسانو ته به لې پټ پټ استولو

۱۱۷- دولت خان سو دخوربه داخطو ور لیږل
په خپل لاس به بې دښمن ته ورکول تل

۱۱۸- بنې پیسې وېرې پیدا کړې پدې لارې
مال دولت، ددولت زیات شو څو وارې

۱۱۹- په آخر کې دولت خان او سورکل دواړه
په شړمونو شرمیدلي بنده غاړه

۱۲۰- یوه شپه لرکلي لاړل په بې لاره
جلد په تیښته لې ځان ورسوو ترښاره

ابراهیم ملك

۱۲۱- د سور ګل سپین ږیري پلار په کټ کي پروت
نور له کوره نه راووت په شرم کیوت

۱۲۲- ابراهیم ملک د عمر سل څو کاله
وو تېر شوی په عزت بې له جنجاله

۱۲۳- اوس په کور کي پټ له قاره غرمبېدلو
غلی غلی به د ځان سره ژړېدلو

۱۲۴- سور ګل واخیست د روسانو سره منصب لوړه
بیا د بر ولس حاکم شو بې سبب لوړ

۱۲۵- د پېر غازیان ئې شهیدان کړل تېښته اوس پاده
د پېر ئې نور په بند زندان کړل پخپل لاس ده

۱۲۶- ولس هلته شو راپورته تری چاپېر شو
دښمنان د پېر ئې یات مردار شول سور ګل ګېر شو

۱۲۷- سور ګل لاس تړلی راوستل شو کور ته
شرمېدلی سر ئې ټیټ د خلکو ور ته

۱۲۸- د سور ګل سپین ږیري پلار چي خبر شو
نور پاڅیده له کوره راباهر شو

۱۲۹- زور تو پک لې په اوبه کړو شمله نیغه
اوبه ده توره لې ترملا کړه تیره تیغه

۱۳۰- ویلې: "خلکو! سم غوږونه راته کیږدی
داسوې زما خپل څوی دی ماته لې پریږدی"

۱۳۱- ابراهیم خپل څوی روان کړو نازولی
په یوې تیږې باندې لې کښینا ولاس تړلی

۱۳۲- بیا یو څو شیبې خپل څوی ته چپ کتلی
د سورګل بړیتونه زوړند ژبه غلې

۱۳۳- لوی واړه څوانان زاړه ووړا وتلې
هره خوا چُپه چپیا لې خپره په کلې

۱۳۴- ابراهیم سپین ږیري وویل: خپل څوی ته
"شه قبلې ته! زاري وکړه پاک رب لوی ته

۱۳۵- "څویه وایه! الله یو دی لایزاله"
سورګل چپ و، بې پروا ناست و لې خیاله

۱۳۶- "څویه وایه! مرګ سوا دی د کافرو"
سورګل چپ و، سرلې زوړند په تندو

۱۳۷- څویه! ولې د کافر دښمن نوکر شوې؟
بې ایمانه، بې غیرته، بې پدر شوې؟

۱۳۸- سورګل چُپ و ګریوان خیرې سر بې خولې
ولس ګیر چاپیر ولاړ و ده لې ده لې

۱۳۹- ابراهیم لاسونږ پورته کړل آسمان ته
عرض يې وکړ ستر پادشاه دکُل جهان ته

۱٤۰- ویلې: "خدایه! زه خو ستا شکر گذار یم
ستا درحم او کرم په انتظار یم"

۱٤۱- زه بوډا یمه ولاړ دکور په غاړه"
ستا جهاد ته د تنگ نه وم حال ویجاړه"

۱٤۲- تا یخپل فضل جهاد را وستو کور ته
د رحمت نظر دې وکړو زما لور ته"

۱٤۳- اوس په متو کې، په زړه کې توان همت را
په خپل امر سبه قوت د اطاعت را"

۱٤٤- ابراهیم بیا توره کش کړ له ابداره
سور کل څوی خپل يې حلال کړو په قلاره

د زړه خبرې

ګرانه خویه!

۱٤۵- که د خپل زړګي احوال درته بیان کړم
ته مې شپه او ورځ یادېږې تل څښکان کړم

۱٤٦- کله کله شیطان پټ پټ راته وائي
د دنیا ټول راحتونه راته ستائي

۱٤۷- وائي: "ځلمي ځوانان پۀ سپه ړیړنت یا دي
ولسونه د جهاد پۀ لوړه ماتت دي"

۱٤۸- د یوې خوارې کونډې ځوئ ولې روانېږې
مور تنها پرېږدې پۀ فکر د خپل ځانېږې

۱٤۹- نارینتوب خو دا سې نۀ وي زما جانه
څپل کورکې پۀ سم ناست وو یه مړانه

۱۵۰- که رښتیا وایم زړه مې بل شان تنبيا کړي
پۀ بل راز خبرې هر دم هرزمان کړي

۱۵۱- ړیرځلمي مجاهد ولې ځئ راځینه
ستا تسل وروباندې کړه ستا پۀ مینه

۱۵۲- ځيږې ځيږي جامې زه ور ته ګنړمه
د جنګونو خاورې دورې توې ځنړمه

۱۵۳ دلته راشي کومه شپه نيمه کړې تيره
ما ته ګښيني له نغري نه ګيږ چا پيره

۱۵٤ تول ويښ ناست وي پيل قصې د جنګ جهاګړې
په خوږ و خوږ و خبر و مې زړه ښاد کړې

۱۵۵- زه په نو ور زارۍ بيده دا ما شومان کړم
د بړستنو لاندې ګرم پټ پنهان کړم

۱۵٦- بيا نو کښينم نغري ته او ر تازه کړم
وور ه غورې ګوره ګه وه په اندازه کړم

۱۵۷- غوړ تيکلي ځو پاخه کړم تر سهار ه
کړم ځلموته د سفر توښه تيار ه

۱۵۸- دوی په تور چرګ بانګ راپاځيږي رخصت شي
بيا نو راشي بيا په کور ميله صحبت شي

۱۵۹- ما ته ستا په شان ښکاريږي دا ځوانان تول
خپل زا من زما د غيږ ې ما شومان تول

۱٦۰- زړه مې والي: ځوی ته تا کړې کونه تون دی
تاز غملی سخت ژوند ون ظالم بيلتون دی

۱٦۱- راڅلوی شوې پس له ډيره انتظاره
تا ر و زلی هم ددې ورځې د پاره

۱۶۲- "په ملک ناست اوس سورکافر دی اوس جهاد دی
د ناموس د غیرت جنګ پدې هیواد دی

۱۶۳- نارینه پیدا د داسې جنګ د پاره
مور ځوانان زوزي د قام د ننګ د پاره

۱٦٤- دښمنان چې برباد نه کړي نو به څه کړي؟
خپل وطن چې آزاد نه کړي نو به څه کړي؟

دجهاد

سندره

ګرانه ځویه!

۱۶۵- ته سپارلی ما په خدای یې موردې زارشه
مال د خدای یې هم هغه دې مددګارشه

۱۶۶- ستا نه زارشم شهادت که نصیب ستا وي
پدې کار کې به د رب خپله رضا وي

۱۶۷- که له ملک نه دې بهر کفر الحاد کړو
که غازي شوې وطن دې خپل آزاد کړو

۱۶۸- نو یوه ورځ به د غازیانو لښکر راشي
ته به راشې بیا به نوی اختر راشي

۱۶۹ دواړه لاس به په نکریزو بیا رنګین کړم
شینکی خال به بیا تازه پاس په جبین کړم

۱۷۰- بیا به زه یمه سر لوړې پخپل کور کې
هم خوشاله خوښ وندې یم هم په کور کې

۱۷۱- په ګاونډ چم به ګډر کې به خندانه
مسته ګرځم په زړه همیشه ځوانه

۱۷۲- بیا به ګرځم په دې دښت په دمن کې
هسکه غاړه په آزاد آباد وطن کې

ooo

ګل نه څوېږه امورډې زار شه

(دُرخانۍ)

قوربان

یا

ناهید۔ تیغی ته دیو عاشق له خوا د

محبت پیغام

توره بلا

گردې گردې سترګې توري ګوري ګوري په هر لوري

نرزري ونرخا نګونه رنګا رنګه آوازونه

دا ناهيد نه ده تيغي ده

عجيبه شان ته مرغۍ ده

دا مرغۍ نه ده آفت دی ورانګاري ته تړلې نيّت دی

تبه کاره بد آشاره د کوچنو مرغو خوږ خواره

په وړه ورو خندا يې مه غوليږه

په مکري ژړا يې مه غوليږه

دا تيغې لويه بلا ده

لوټ تاراج به کړي خوږ نړونه آرمانونه

موږ به نه يو

اميد ونه، آرزوګانې، کارونه

موږ به نه يو

دا به شمع وي بليږي، پتنګان به پرې سوزيږي

په قدم، قدم به فرش ورته کلونه

موږ به نه یو،
په خندا به وران جهان کړي، عاشقان به خپل قتلان کړي
وران ویجاړ به کړي آباد آباد کورونه
موږ به نه یو،
په ناز ونو په غرورونو مه غولیږه!
په ځکیو او په اوسیلو مه غولیږه!
دا تیغه بده بلا ده

—...—

دا شیشکه ده، بلا ده!
دا د چا ندا پیدا ده؟
دا د کوم خواند ما غلي؟
د چا کور ته غلي، غلي؟
او ربه کیږ دي دې د نیا ته
دا ولاړه تماشاته
په مکیز او په اداګ مه غولیږه
په شکوه په واویلا مه زوریږه
دا تیغه توره بلا ده
ای تیغه! ته څه آفت، ته څه بلایې!
د دنیا د دړد او غمه بې پروایې
د پردیس پېدې ویجاړ ملک کې پیدایې

د هجرت په کنډوالو کې پروت غنا يې؟

وايه څوک يې؟ نازنينې دل آرامې!
څه پيغام دې پټ راوړې ګل اندامې؟
ته ورو مه شيبه شيبه لې نرمه نرمه
سبکې لو رغنچه غنچه لې ګرمه ګرمه
نازولې معشوقه د هسکو غرونو؟
د باغونو شنو دشتونو چمنونو؟
ته سبا يې يا سبا باد سبا يې
راالوتې په ميرو شړو بيديا يې
دوباره دې راژوندۍ کړې آرزوګانې
افسونګرې، معجزه د مسيحا يې
سبکې ستړې دې هيواد د آبادۍ دې
خندا ګې کې دې پيغام د آزادۍ دې
اى تيغې ته څه بلا يې؟

پيښور (۲۲) سپټمبر ۱۹۸۵ ع
سيد بهاؤالدين "مجروح"
(ناهيد ته)

د بنګړو شرنګ

هر مازیګر به کودړ ته تللی
ماښام غمو کړې د عشق ځپلی
پر نیمو شپو به پټ پټ ورغلی
پاس په پالنګ ئې بېغ ورختلی،

تل اورېدلي ماښام سهار ما
د بنګړو شرنګ، شرنګ د خپل دلدار ما
ورځ له بېلتونه په زړه زغملوم
شپې تېرې کړې په انتظار ما

کټ ته ورغلی په بېره ډار یم
غېږ کې پټ شوی د خپل نګار یم
تور تم تیاره کې نیمګړی عشق و
بیا ئې شړلی په خړ سهار یم

د زلفو زنځیر

ساقي راپاڅه تنده مې اوږدي
راپاڅه! ناڅه سر کې بل شور دی
زنځیر د زلفو په ما راخپور دی
د خیال زندان تور، زړه مې تر تور دی

ساقي

ننګ او ناموس دی تجو نوساتلی
پیغور، پیغوریم تل شرمولی
پاس په مورچو ئې زه ور ختلی
له شرمه تللی مرګ ته ورغلی

ساقي راپاڅه تنده مې زیا ته
په دریابونو نه شوله ماته
دا آسمانونه پیالې پیالې کړه
ډکې لبریزې بیارا کړه ماته

ښوونې ستورې

په توره شپه کې شمعه رڼا کا
ماوی: ماتم کا، ماوی ژړاکا
که پتنګان دي ستي ایرې شول
ماوی: پاکان دي عشق او وفاکا

خوږې سندرې، د بلبلانو
خندا د زرکو، شور د طوطیانو
زما نظر کې، وې ژړاګانې
غم او ماتم وُ د عاشقانو

شینکي خالونه

شینکي خالونه د مه جبینې
تنکې پېزوان شو هار لونګینې
ولول د زلفو تور سنا مار هم
مانتل ستا یلي د زړه له مینې

—.....—

په بهارونو، په خزانونو
باغ او بوستان کې په غرورغونو
لیدلي ما دي دغم رنګونه
زیړ رنګونه، د سرو ګلونو

پوهاند مجروح

یادونه: د شهید ډاکترسید بهاؤالدین (مجروح) ځینې شعرونه چې نه مو ترلاس ترندي راغلي د راتلو په صورت کې به ئې بیاچاپ کړو. (إنشاء الله تعالیٰ)

گرانو لوستونکو !

د پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدّین "مجروح" په شهادت باندې لکه څرنګه چې د نوموړي کورنۍ په درد او غم کې ډوبه شوه او د دوی لپاره یوه ضایعه ده ، په همدې ډول د افغاني ټولنې شاعرانو ، لیکوالو او ادب پوهانو لپاره هم یوه ستره فاجعه ګڼل کیږي .

د ډاکټر "مجروح" د شهادت څخه وروسته په ملي او بین المللي سطحه د یو شمیر سیاست پوهانو ، ادیبانو شاعرانو ، لیکوالو ، مجاهدینو ، مهاجرینو او انصارو خپل تأثرات څرګند کړل او زموږ سره یې غم شریکي وکړه .

د افغان د اطلاعاتو مرکز په هڅه وکړي چې په راتلونکي کې دغه ټول لیکنې راغونډې کړي ، خو په اوس وخت کې یوازې هغه لیکنې او " مرثیه " اشعار تاسې ته وړاندې کوو چې د افغاني شاعرانو او لیکوالو له خوا ویل شوي دي او زموږ لاس ته رارسیدلي دي .

د افغان اطلاعاتي مرکز
د اداري لخوا

دوهم فصل

ويرني

"حمزه" شنواری

بهاؤالدین "مجروح"

شهید ه!

که هر څو یخپله لاړ و په راحت شو
خو په ښار ونو د دوستانو یې قیامت شو

بنه ثابت یې دا شرف د سیادت شو
چې فایز په مرتبه د شهادت شو

هغه بدر چې د شمسه مقتبس وه
چې کسوف پرې د مرګ راغلو ظلمت شو

له "جمال افغان" نه پس په پښتونخوا کې
هم دا یو بهاؤالدین وُ چې رخصت شو

د پښتون د بدبختۍ نه به څه وایم
چې غروب یې دا کوکب د سعادت شو

په تحقیق موت العالِم موت العالَم دی
پرې شاهد د غه رښتینې روایت شو

دا یوازې د "مجروح" د بابا نه دی
دا یې غم دی چې په برخه د ملت شو

حمزه! د اخلاص درکه په مشکل شي
خو که فضل د پاك رب پدې ملت شو

دسید بهاؤالدین مجروح په شهادت

همیش خلیل

په خزان وهلې څانګه یو بلبله
زما کور کې په سرو وینو ژړیدله
په سرو سترګو د حسرت کې نوحه کړې
خدای خبر دی چې د چا سا نه ویله؟
وې یې: ای د افغانې ورځو آدمه!
د آرزو باږدره ستا و سوزیدله
ما وی: ته وایې بلبلې هیڅ پوه نه شوم
دا د چا په فرقت ژاړې بې بدله؟
وې یې: دا د غم خبرې دی راوړی
خوله مې درکه شه له خاورو څخه
که ته وپه وایم سوزم لمبه کیږم
د هجران لمبې مې خیژي له ګوګله
چې یې زه درته وایم د غم په ژبه
د زخمونو ګلدسته درکه منګوله

هغه ګل د ښ ماڼي لا سونو ومروړ
د وطن د را بیا ګلي له کا ګُله
په آرزو د خپل چمن د ښیرازۍ وُ
نیم بسمل هسي مجروح وُ له ازله
د خپل سر په صدقه ئې کړه روښانه
د افغان د تقدس دیوه شوه بلــه
د وطن د آزادۍ په استقلال ئې
د ګلونو په ځای وینه وشیندله
هغه روڼ مشال بې وخته تیارو ونغړد
چې تیاره دغلامۍ به ئې غندله
د شرابو په ځای ستا هغه همفکره
سره پیاله د شهادت من ونوشله
په ګلشن د پسرلي په امیدونو
مالیه د هغه وینه بهیدله
د مراد کشتۍ طوفان کړه درې ورې
بس یو څو قدمه وړاندې له منزله
ماوی: څوک دی د کوم ځای او څه ئې نوم دی؟
را نمایه ای کمبختې ژر کړه هله
وی ئې: ماه د پښتونخوا له کوه طوره
موسی خویه پښتنو ته ځلیدله

د پېرو له انتظاره پیدا کیږي
د مجروح غونډې د نیا کې کله

بویه بیا چې بهاؤالدین غونډې مړاوري
په آسانه که پیدا شي ، ده مشکله

چې په خپله د خپل کور د یوې وژني
هاغې شعبه د دراسې قوم له تغافله!

الحاج غلام فاروق "چشتي"

دستر مجاهد

شهید بهاؤالدین "مجروح"

په یاد

ارمانجن عادي کسان په غم د ځان وي
ځینې ځینې خیراندیش د کل جهان وي

یو یو کس جمال الدین بهاؤالدین شي — په دانش او عمل فخر د افغانان وي
ها، مثل دی سل دې ومري یو دې مه مري — په یوه یوه سړي ملت ودان وي
داسې غم چې نور غمونه پرې هېرېږي — ضایعه لکه د دې مجروح پوهان وي

دغه ویر د یوه کور او ملت نه دی
هو مونږ لوی دی چې ویرجن به ټول جهان وي

خدایه استاد غه نمسی د محمد ﷺ به — د حسین رض په څېر په سر کفن روان وي
او د عصر خوړل رون ستوری د علم — د افغان ولس په زړه کې د روښان وي

په رښتیا د پیغمبر صادق نمسی وو!
"چشتي" والې پرې رحمت شه خونهان وي

○

د شهید استاد سید بهاؤالدین

مجروح په مرثیه

پروه و نیسه شهیده خپل بهتر ته
هسې نه چې بل محشر ورو وړی محشر ته
په روسي مرمیو سوری ځیگر دې یوړو
چې د وخت پیښو را پیښ کړې پیښو رته
چې غاښونه دې ویستل ورته په علم
قسمت وسپارلې هغه تور اژدر ته
چې میدان د دا وریه شي ستا یزید به
د حسین بچیه! څه وایې دا ور ته
موږ دې وچې شونډې پریښودو له علمه
خبر نه وو چې ستا تنده وه کوثر ته
چې دې لوی خطر اولس ته مخامخ لید
د سپر غوندې دې ځان ونیوه خطر ته
د "مجروح"(۱) مجروح زړګیه وینو لال کړې
د ملي تاریخ د ویاړ ښکلي افسر ته

(۱) سید شمس الدین مجروح

ستا په ویاړ به درست افغان شمله کښېږدي
ته تنها مایه د ناز نه وې کښېوته
په سرو وینو لمبیدلی خدای ته لاړې
شه منظور دې شهادت رب اکبر ته
ته شرروې ته د ځان د علم بحر ه
په پرواز کې ځنګه ورته شوې شرر ته
ته سرخرویه په لحد کې پریوتلې
بنه زېړه شي د لمر هم مازدیګر ته
په سیّد پسې دویم فخر افغان وې
چې روان شوې د علمي جهاد سنګر ته
مطمئن یم چې وطن مو آزادېږي
څه امید د بیاعمران به وړو کشور ته؟
چې ګلونه یې بې وخته وروژېږي
د هغې ونې به څه امید وي ګرته؟
چې د پوهې دنګې څوکې یې نړېږي
سرلوړي به څه وي غرونو کې سپین غر ته؟
چې ګذارې د دانا په سر لګېږي
څه بلا نازله شوې ده باختر ته؟
د عرفان بلې ډیوې ته باد پوکلی
پښتنګان به بیا د رېږي د چا در ته؟

داد ب مینار جام را نسکور شوی
چې هر چا لا سونه پورته کړو هغه ته
جنایت پټیږی نه شي افشاء کیږي
داو بو وشلي خیژي د سین سر ته
حقیقت لا په تر وور دی چا ورک کړي
شو پرک به کو څرخه ونیسي لمر ته؟
دهغې ولې ریښې دي په ما سکوکې
چا چې لا ستی دی ورکړی دے تبر ته
د ظلمت لمن یې نوره هم بنزه وینم
وار خطا شپه عبث پښنه بردي سپین سحر ته

د رسول د زړه ټوټه چې یې شهید کړه
په محشر به څنګه ګوري پیغمبر ته

رلي
لاړ به شي خو ژوندی سوح نشي سپا
اباسین د خموشانو سمندر ته

عاقبت به شي سکرو ته تور مخ پا ته
چې وختونه کړي مجبور ژمی سفر ته

د "مجروح" د زړه مرهم کړي خدایه بنه ژغ
نوبهار چې شګوفې لا وړي شجر ته

په مزار د شهیدانو دې نُور اوري
څو چې غېږه وي پرانیستې هسک اختر ته

د "پسرلي" د زړه دعا که به قبلېږي
د ظالم وجود شه وا وره تا وده لمر ته

خدای ج دې پاکه کړي نړۍ له ترورېستو
چې نسبت یې سپکا وي دې ټول بشر ته

مرثیه

د سیا غلي" حمزه صاحب" په مرثیې د "چشتي"

صاحب مخمس

چا وی د لته څوك په ویو کې لټ پټ شو
د مجروح د شهادت آواز اوچت شو
غریو نیولی ومه ستونی مې تربت شو
که هرڅو یخپله لاړو په راحت شو
خو په زړه ونو د دوستانو یې قیامت شو

له نړۍ تیر په بې کچه شهامت شو
چې شهید شو هویدا یې عظمت شو
له تقیانو او ولیانو په رفعت شو
سنه ثابت یې دا شرف د سیادت شو
چې فائز په مرتبه د شهادت شو

د افغان په خونړۍ ترخه فضاء کې
کرم مې مه بولئ که ژاړم په دنیا کې
نن د پوهې سیاست په پوره رڼا کې

له جمال افغان نه پس په پښتو ښخواکي
هما یو بها ؤالدین وُچي رخصت شو

دخونکار وله پستۍ نه به څه وایم
د تالوبدو سستۍ نه به څه وایم
د مړونو له نیستۍ نه به څه وایم
د پښتون د بدبختۍ نه به څه وایم
چي غروب ئې دا کوکب د سعادت شو

دافغان په پرګنو کې لوی ماتم دی
یو روڼ ستوری افول شو او تورتم دی
په جهان کې د دانش په سترګو نم دی
په تحقیق موت العالِمُ موت العالَمُ دی
پري شاهد دغه رښتیني روایت شو

له دې پېښې زړه قرار د هیچا نه دی
ویښ ژاړم یا ش بخت مې په خوانه دی
ټول پرې ژاړو وایه داغم د چا نه دی؟
دا یوازې د مجروحٌ د بابا نه دی!
دا سې غم دی چي په برخه د ملّت شو

که د زړه ونو ساتل نه ده کا هغه دل شي
لکه شمعه خپله سوځي بيا د لپل شي
"چشتي" بيا به هسې رڼ څوک په قنديل شي
"حمزه" دا خلا به ډکه په مشکل شي
خوکه فضل د پاك رب پرې ملّت شو

د پوهاند

سيّد بهاوالدّين "مجروح" په ياد

عبدالله "غمخور"

د دانش کړيوانډ چا پاره پاره کړي؟
دا د غم شته مې چاکړه په زړه لکه ؟
دخرد په خوينه سره اور ونه بل دي
چا تور ور کړي له چشما نو مردمکه؟

د شعور او د احساس په کور غوغا ده
د فرهنگ سترګې دغه نه وچيږي
چې دانا د نه ماني کړي سترګې پټې
لوی، واړه ټي په بيلتون بانديې ژړيږي

د ضمير او د وجدان جنازه وشوه
د شمر لاسو نه بيا په وينو سره دي
د حسنؑ او د حسينؑ دغو بينو بوى دى
اهل بيتو کې څوك بيا په ظلم مړه دي

د حيات د فلسفې کتاب شو پوره
ديد ور د شرق او غرب د مدرسې لاره
نسلې دا اهل ذوق به څوك وکړي؟
چې امام د ى وښوفکر و د حلقې لاره

تا د سر په بيها حق د دين اداء کړو
په رښتيا سره «سيّد بهاؤالدين» لې
چې سرخرو به د دار ينو بلل کيږي
نه د حق په وينو سور هغه جبين لې!

چې غوغائي په جهان باندې خوره ده
د هجرت په قافله شوى شبخون دى
علمدار د آزادى په وينو رنګ شو
د عالم زړګى پرې ټکه جګر خون دى

بشري جنايتونه والئ د ير د ي
د دولت د پاره هر ځاى هرڅه وشو
ما دعلم د ښـښي ليد لې نهٔ وه
راشئ ! و ينئ د "پوهاند" سره څهٔ وشو؟

د كافراو مسلمان او ښكې پرې ښاځي
ستمګره ! ته انسان يئ كه حيوان يې
دغه ظلم دكيد و وچې تا وكړو
دا ته څرنګه كافر او مسلمان يې

خلقه راشئ چي پرې وكړو ښوا تې
شهسوار د نام و ننګ د قافلې ځي
خطره ده نه و نه ريبن دي سترګې زاري
وخت او بخت له نه پـه هسې حادثې ځي

خپل ښايست ور پورې اور لكه ډګل شو
د حسد باد و نو يو ره و عند ليبه
هير به نشي ته نه مونږ شام غريبه

د پوهاند سید بهاؤالدین مجروح په غم کښې مرثیه

غمخور

دافغان د ستر کو تور دزړګي سرلاړ
که د علم د دانش شمس وقمر لاړ
چې خبری یې د آسمان سره کولې
هغه سر، هغه دماغ، هغه جوهر لاړ
بې له خدایه چې بل چاته سنکته نشو
هغه قد، هغه قامت، هغه پیکر لاړ
چې بهایې د شاهانو سره نشته
هغه لعل، هغه مرجان، هغه ګوهر لاړ
دانایې به وایه چاته شي په غاړه
چې دانا د زمانې لاړ و نظر لاړ
تسلي به د دې بزم په چا وشي ؟
چې ساقي لاړ و، ساغر لاړ و، کوثر لاړ
ناخبره به خبر واخلي د چا نه ؟
په خبرو چې پوهېده هغه خبر لاړ
چې د نیا یې منتظره د نظر وه
هغه سوچ، هغه قلم، هغه دفتر لاړ

شه خبر لئ په احوال باندې وطنه
ستا له سره چې قربان ؤ هغه سر لاړ
آسمانونه لئ دځانه سره يوړه
چې آسمان ؤ د جهاد هغه سنګر لاړ
اوس که خاورې بادوم نه کوي سود
چې مې بخت له بام و دره مرور لاړ
داقبال ستورې مې پټ شو په تيارو کې
د شفق کفن په غاړه په سفر لاړ
لاس دې مات شه دهجرت چراغ دې مړه کړه
چې خبر لئ په جهان لکه محشر لاړ
مخ دې تور شه په دار ينوکې غليمه
ستا د لاسه دعالم په زړه خنجر لاړ
پينور را ته يارانو کربلا شوه
ډوب په وينو چې نمسى د پيغمبر لاړ
بهاؤالدينه ! دوطن دستر کو توره
چې ته لاړې ددې کور شام وسحر لاړ
د مجروح د زړه داغونه دکتو دي
چې يار لاړو دلدار لاړو پسر لاړ

عبداللهٔ غمخورٔ

ته مې ونه ليدې

اختربه څه کرم بې له تا نه تهٔ مې ونهٔ ليدې
ګيله مې وشوه دخپل ځانه ته مې ونه ليدې
خلك دې بندو دروازو ته ددیدن وولاړ
زينت ونلې له مکانه ته مې ونه ليدې
لاړې کوڅې وې سترګې په آرمان دليدو
دديدن تنده وه بې شانه ته مې ونه ليدې
غريب آبادؤ له حسرته نه غريونيولى
يونيورسټي وه هم بې ځانه ته مې ونه ليدې
غوغا وه کړه دمسعود او دنعيم په خونو
بالاماڼې وه پريشانه ته مې ونه ليدې
پاچاصاحب وُفکر وړې ناکړدوته دوخت
زړهٔ بې وُسترې د دنيا نه ته مې ونه ليدې
داختر ورځ وه خولې نه په خوبزو پوه نشومه
خندا وه ډکه د ژړانه تهٔ مې ونه ليدې
سترګې مې نهٔ شولې مړې ديواوبل په ديدن
تپوس مې وکړو له هرچانه ته مې ونه ليدې

دوصال قدر را معلوم شود هجران په ليدو
و سومه څکه بې نيرانه ته مې ونه ليدې
خلك مې وليدل خو ستا تسل پېړې کله کيدو
د آسماني جهانه ته مې ونه ليدې
تاله خاکي عالمه کډه په رښتيا کړې وه
د نوراني عالم مهمان ته مې ونه ليدې
پدې نيمګړې دنياګۍ به څه خوښي وکړي څوك
چې سود ئې نه وي بې له زيانه ته مې ونه ليدې
بهاؤالدينه! ته ښادې وې تر اختره زمونږ
اختر به څه کړم بې له تا نه ته مې ونه ليدې



"عبدالله غمخور"

د شهید سید بهاؤالدین مجروح په یاد

نه غوړېږي زړونه آرمانونه پسنه نیولي دي
نه خاندي ګلونه بهارونه پسنه نیولي دي

هجر دې مهجوره محفلونه پریشانه کړه
نه راځي د مینې پیغامونه پسنه نیولي دي
زړه کباب کباب دی صراحي له اوښکو ډکه ده
راشه ساقي راشه! چې جامونه پسنه نیولي دي
غږ د بېلتانه دی د چمن سینه داغلې ده
ګل دی که بلبل دی نکهتونه پسنه نیولي دي
لړې د فراق دي راخورې دي په آسمان د خیال
نه چې وورېږي بارانونه پسنه نیولي دي
داسې اثر نه دی چې زه په کې بې هوشه یم
دغه تورې شپې ته سحرونه پسنه نیولي دي
لاړې آرزوګانې د عدم په زړه کې پټې شوې
ورځې دي که شپې دي ماښامونه پسنه نیولي دي

زړهٔ دی ناقراره د دیدن قاتي راغلي ده
سترګې نه مړیږي دید نونه پسبنه نیولی دی

بیا ـ شه پوهانه ! د پوهې دنیا وړانه ده
عقل دی که فکر د ماغونه پسبنه نیولي دي

څه شوې مصوّره، مفکره چرته لاړې ته؟
تا ته اوس د زړه و نوجها نونه پسبنه نیولي دي

یو افغان خونه دی چې زه چا ته په ګوته کړم
ستا په غم کې خانه عالمونه پسبنه نیولي دي

زیری مې در باندې چې روښان دملکه ورا ته
څه چې څو وطن ته بیل غونه پسبنه نیولي دي

دی ماتم سرای کې وایه چا ته پاتې کیږې ته
واخله قدمونه چې جشنونه پسبنه نیولي دي

ته چې پورته نه شې یو قدم به پورته نکړي څوک
ستا قدم بوسی ته امیدونه پسبنه نیولي دي

وخت د کوچیدو دی قافله د کوچ ولاړه ده
ستا لاړې ته ګوري قدمونه پسبنه نیولي دي

د پوهاند سید بهاؤالدین مجروح دردناک او ویږرن شهادت د هرچا زړه خوږ کړو، لوی خدای د دې د شهید مجروح درجې لوړې او چتې کړي، د هغوی په المناک شهادت دا یو څو وینو او ښکې قطرې نذر کوم.

«عاصي»

سید بهاؤالدین مجروح شه

ته قاتل شوې خو دانش دې قتل نه کړو
مرګه! هیڅ عقل شعور وژلی نه شي

په ماښام دې د هجرت قافله لوټ کړه
خو د سپین سحر نه نور لوټولی نه شي

د عرفان او د عمل مجروح شهید شو
شه په کور بې نور د تولو روح شهید شو

یاتې وینې وینې باغ ترې په خزان شه
چې مړ قدې د صبا سپینه رڼا شه

"وثيق"

شهيد بهاؤالدين مجروح ته

کوم صفت د ې ای سيّده کرم بيان
دومره ډير دي لکه ريګ د بيابان
خدمتونه دې ډير کړي ای شهيده
هر يو ښکاري لکه ستوري د آسمان

ته د ټولو اديبانو د سر تاج وې
يو سيّد وې بل دې پاک لاره وجدان
جنايات د سرو روسانو دې رسوا کړل
ترې خبر شو همه واړه جهانيان

ښو کتابه دې ليکلي يادګاري دي
قيمتي دي لکه لعل د بدخشان
په قيمت باندې عالم اديب پوهيږي
مغفرت دې نصيبه شه د سبحان

روح دې خوښ خوشحاله او سر ميږ نه
له خالقه دې درخواست کړو دا يمان
خارجيان دې په فراق باندې ماتم کړي
را ټول شوي بې ننا نه دي همزان

بندې کړې د ـــ وازې د دفترونې
تول خفه دي ستا په مرګ لکه دځان
هم غمجن دې اديبان او شاعران کړل
دوی به ليکي ستا د مرګ قيصې داستان

تا يو داسې تاريخ پريښود په نړۍ کې
هيريه نۍ نکړي ترقيا مته هيخ انسان
ته خولاړې شهادت دې مبارک شه
مونږ دې پرې ښو دو په دشت وبيابان

تا خو غم دخوار و نــا رافغان خوړ لو
چې آخر دې قرباني کړو مې پرخپل ځان
خدای دې صبر ستا سپين بيري پلار ته وركړي
هم زوزاد و خپل خپلوان ته بې پايان

ته مړ نه يې دا سلام په پاکه لارکې
دغه درس مونږ ته راکړي دی قرآن
صرف لاړې له جهانه تر جا نانه
مبارک دې داسفرشه يوځل نه په هزارشانه

وثيق سوال کړي خدای دې حورې غلمان در کړي
په جنت کې پخپل فضل و خپل احسان

عبدالباری غیرت

دمجروح صاحب

په ویر کې

دمجروح په ویر ماتم کې جهان ژاړي
ځمکه ژاړي، بحر ژاړي آسمان ژاړي

بلبلان دغم ناري وهي په بڼ کې
رباب، چنګ اونۍ تام نیستان ژاړي
چې ئې ورکړه له علمي پانګه لاسه
دا خوځکه هم بچي دافغان ښاړي
زلزلې دي، رعد اوبرق دی ګردله ډ
سمندر په غرغړو دی طوفان ژاړي
ستا په غم کې لیکوال ژاړي شاعر ژاړي
عالمان د فلسفې او پوهان ښاړي
راډیو د بي بي سي په چغهار ده
امریکا غږ، قاهره او المان ژاړي

چې په تپنده تيارو له جهان ولاړو
ځکه ستوري او سپوږمۍ شبستان ژاړي

ولې ولې حقيقت او حق مظلوم شو؟
په همدې د حقيقت پلويان ژاړي

اى "غيرته"! په مجروح عالم غمګين دی
نه يوازې يې دوستان او خپلوان ژاړي

قندهار اپریدی

غیبي ږغ

هاتف ږغ وکړو چې وای دغه له څه دي
چې پېښاني د مجروح پوهاند واژه دي
خو په قبر یې پوهانو داسې وویل...
چې یې نور په مړوک مئین کړل نو مړ نه دی
هاتف ږغ نه دی پنځه اتیا م باسم
درته کال که د مجروح معلومیده دي

نثاراحمد اکسیر

مرثیه

چې د غم خبر ئې خپور په ټول جهان شو
یو ادیب و ترې محروم قوم د افغان شو

د دې خاورې محبت ئې په زړه ټینګ و
وفادار و چې د دې ناوې نه قربان شو
آموزګار یې هندوکش ته په سوران دی
آه، "مجروح" پیکر بندي د قبرستان شو
علمیت ئې هر ډګر کې و مبناغلی
څکه ملک ئې په نشتوالي بیابان شو
د خپل قام په غم کې تیر ترسر و مال و
ثبت ئې نوم د شهیدانو په کاروان شو
نوم به ئې لیک شي د افغان زرین تاریخ کې
چې پیرو د زرین دور فریدخان شو

کوم اوصاف به ئې ته و لیکې اکسیره!
حقیقت کې افتخار د هر افغان شو،

حبیب الله "رفیع"

څوقطعې

دپوهاندزره :

ولوید له غورځنګ څنې یوخوځند، یوتپاندزره
یې له علمه زره وُ، ورو سبانن، وځلاندزره
کړ د جهالت مرموجروح، مجروح، مجروح، مجروح
دا زره وُ زره کیه! د مجروح غوندې پوهاندزره

۱۳۶۶/۱۱/۲۵

علم نه مري :

چې مجروح غوندې عالم په خاوروخړشو
علم مړشو، حکمت مړشو، ادب مړشو

علم نه مري، دا سې فکر دې څوک نکړي
"د جاهل په دې منطق او عقل پړشو"

د کار زړه ؛

نن مې بيا دی درديدلی ناقرار زړه
چې مې واورېد د مجروح د زړه قرار زړه
لاس دې مات شه! بې احساسه زړه دې مړ شه
چې بې کاره دې له کاره کړه د کار زړه

د علم څلی ؛

نيشې د استبداد يې د احساس سترګې ړندې کړې
لګيا دي د فکرونو کور او کلي ورانوي

افسوس دی چې مجروح غوندې پوهان له منځه باسي
د علم دښمنان د علم څلي ورانوي

۱۳۶۶/۱۱/۲۸

به خانوادهٔ استاد مجروح

عقاب مغرور

برتبار دانش و فرهنگ عجب بیداد رفت
اختری دیگر از آن در کام استبداد رفت
خامهٔ او جام لبریز از خمستان ادب
ساقی تر دست محفل حضرت استاد رفت
بر لب خندان او بشکست رنگ زندگی
عندلیب خوشنوا از شاخهٔ شمشاد رفت
کوفت عمری تیشهٔ همت به فرق "اژدها"
حیف اگر از بیستون معرفت فرهاد رفت
"رهنورد نیمه شب" از بانگ نی سرمست بود
همچو سرو از گلشن ویران ما آزاد رفت
در "دیار بیخودی" چنگ از نوا افتاده بود
تا به شورش آورد صاحبدل فرزاد رفت
سال‌ها «صاحبدل دیوانه» با «دیو خودی»
گرم پیکار و ستیز آهنگ و پر فریاد رفت
"مار کبرای" تعصب را به مردی سر بکوفت
تیغ خود را آبدار از خون نمود و شاد رفت

وه ! از فرخنده آغاز خجسته عاقبت
گوهری در رود بارمست سعدآباد رفت
باده پرزور شرق انگکند اندر جام غرب
نزد هیگل از دیار جامی و بهزاد رفت
مونس شب های تارش بود بانگ مولوی
رفت اندر کسوت لاتیان حمّاد رفت
"سبز پوشی" از دیار "بامداد" عشق بود
فیلسوف شاعر و مرد خرد بنیاد رفت
نیست غم "مجروح" اگر مقتول شد از تیغ کین
زندهٔ جاوید هرگز می توان از یاد رفت ؟

ای خوش آن عقاب مغروری که تا هنگام مرگ
فارغ از اندیشهٔ فرعون و بیم شداد رفت

« محمد اسحٰق نگارگر »

پوهاند محروحته

"مختار"

(۱)

چې د قام او د ملت په درد دردمن وُ
چې خادم د خپلې خاورې او وطن وُ
د مظلومو او محرومو مرستندوی وُ
... او د ظلم استبداد سره دښمن وُ

(۲)

لوی شاعر وُ، لوی ادیب لوی مفکر وُ
لوی عالم وُ، لوی د پوهې پوهنتون وُ
د موټرو او بنګلو په غم کې نه وُ
د وطن د لیلیٰ عشق کې مجنون وُ

(۳)

نن هغه لویه هستي له منځه لاړه
څوک چې ډیر په افغانیت باندې مین وُ
د افغان په ننګ يې سر ورکړ شهید شو
ننګیالی د زمانې بهاوُالدین وُ

PROPERTY OF ACKU 722

دافغانستان دمجاهد وليكوالو د ټولنې

لخوا چاپ شوي كتابونه

١- دافغانستان دجهاد لار "پښتو"	دسعدالدين "شپون" ليكنه ١٩٨١ ع
٢- "كربلائي جنګ" "پښتو"	دجوار شاليان ليكنه، دحكيم تنيوال ژباړه او ټولونه ١٩٨٢ ع
٣- دپښتني مور پيغام - پښتو نظم	دپوهاند مجروح ليكنه ١٩٨٢ ع
٤- ماتمسرا "اشعار دری"	بقلم استاد خليلی ١٩٨٢ ع
٥- سرنوشت مذهب در اتحاد شوروی "دری"	مترجم ثابت ١٩٨٢ ع
٦- اژدهای خودی، سرمنزل آزادی	بقلم دكتور سيد بهاؤالدين مجروح ١٩٨٣ ع
٧- لويه هنګامه، "پښتو شعرونه"	عبدالله غمخور ١٩٨٤ ع
٨- ياد فرياد، "پښتو او دری شعرونه"	دسيد شمس الدين مجروح "بقلم ١٩٨٥ ع
٩- دښمن وپيژنئ، "پښتو"	دپوهاند بهاؤالدين "مجروح" ليكنه ١٩٨٨
١٠- اژدهای خودی، سرمنزل آزادي	چاپ دوم ١٩٨٩ ع
١١- نا آشنا سندرې، "پښتو"	دپوهاند بهاؤالدين مجروح "شعرونه" ١٩٨٩ ع

دافغان اطلاعاتی مركز لخوا چاپ شويدى